د افغانستان اسلامي امارت
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت
د مالي او اداري چارو عمومي ریاست
د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# مجله شهید



# د شهیدانو او معلولینو چارو محترم سرپرست وزیر پیغام

## بسم الله الرحمن الرحیم

الحمدلله

دا یو څرګند حقیقت دی چې د شهیدانو محترمو کورنیو او ډېرى معلولیت لرونکو وګړو د هېواد خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا، د دیني او اسلامي ارزښتونو په دفاع او اسلامي نظام د تنفیذ لپاره قرباني ورکړې، د ګران هېواد ستر ملت نن د هغو په سرښندنو او کارنامو ویاړي.

الحمدلله چې د شهیدانو قدرمنو وارثینو، معلولینو او د افغانستان دې دردېدلي او کړېدلي قشر ته د اسلامي نظام تر چتر لاندې خدمت کوم.

**الحاج ملا عبدالمجید آخند**

**د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سرپرست وزیر**

# لړلیک

سرلیکنه ........................................................................................ ۱
د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر ................................................ ۲
په ټولنه کې د یتیمانو حقوق.............................................................................. ۳
شهید ملا بورجان آخند ژوند ته کتنه........................................................................ ۹
مهم خبرونه او راپورونه ................. ............................................................. ۱۵
اهمیت شوری از نظر اسلام................................................................................ ۴۲
مصاحبه با یک تن معلول.................................................................................. ۴۴
شعر او ادب................................................................................................ ۴۷

د امتیاز خاوند : د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت

*مسئول مدیر : مفتي فیصل "خاموش"

* د تصحیح مدیر : حافظ محمد یعقوب "روښان"

*خـبریـال : حشمت الله "محمدي" *ډیـزایـنر : نعمت الله "نظري"

***کتنپلاوی***

مولوي کلیم الله *افغان*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مالي او اداري چارو عمومي رئیس

قاري شاه محمد *دوست*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دفتر رئیس

مولوي محمد موسی *صدیقي*
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو چارو رئیس

یـــادونـــه " له سرلیکنې پرته د نورو لیکنو سپیناوی د درنو لیکوالانو په غاړه دی"

د هوايي ډګر عمومي سړک، خیاط کلا، کابل، افغانستان

+93 705152652

mmd.gov.af@gmail.com

# سرلیکنه

د هر هېواد او ملت د تاریخ یوه مهمه برخه د شهیدانو او معلولینو قربانۍ، سرښندنې، ویاړلې کارنامې او د هغوی د ژوند کیسې دي. شهیدان هغه کسان دي چې د دین، هېواد او د اعلاء کلمة الله لپاره یې خپل ژوند قرباني کړی او د هغوی قرباني او سرښندنې هېڅکله هم د هېریدو نه دي، په دې توګه، د شهیدانو یادونه، د هغوی له یتیمانو او کونډو سره نغدي مرستې، د هغوی د کورنیو څخه هر اړخیز ملاتړ او د خدمتونو وړاندې کول د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له مهمو مسؤلیتونو څخه دي.
معلولین چې د انقلابونو په دوران کې د جهادي مبارزې پر وخت او د نورو پېښو له امله معلول شوي او د خپل بدن مهم غړي یې له لاسه ورکړي دي، د ټولنې یوه بله مهمه برخه ده، د هغوی حقونه باید د ټولو لپاره واضح وي، د ژوند د کیفیت لوړولو لپاره یې باید هڅې وشي، د معلولینو ملاتړ یوازې د هغوی د فزیکي اړتیاوو پوره کول نه دي، بلکې د هغوی رواني او ټولنیز ژوند ته ځانګړې پاملرنه پکار ده.
له نېکه مرغه د اسلامي امارت د مشرتابه د مهربانۍ او شفقت له مخې، ټولو یتیمانو، کونډو او معلولینو ژوند ته ځانګړې پاملرنه شوې د هغوی د کورنیو وخت په وخت احوال اخیستل شوی، ستونزې او غوښتنې یې اورېدل شوي د توان او وړتیا سره سم ورته رسیدګي شوې، هغوی ته د معیاري او ښو خدمتونو وړاندې کولو او د ملاتړ په موخه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ته هر کال مشخصه بودیجه ځانګړې کېږي تر څو په ښه توګه د هغوی اقتصادي ستونزو ته رسیدګي وشي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په یوه کال کې توانېدلی دی چې یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د میاشتنۍ نغدي مساعدتونو په ورکړه کې بشپړ شفافیت تأمین، په شرایطو برابر یتیمانو او معلولینو ته د حرفوي زده کړو زمینه برابره کړي، د هېواد په (۳۴) ولایتونو کې د یتیمانو، کونډو او معلولیت لرونکو وګړو د ثبت او راجسټر په موخه یې نوی الکټرونیکي سیستم فعال کړی، د جعل او تزویر څخه د مخنیوي په موخه په مرکز او ولایتونو کې کور په کور د سروې او تصفیې پروسه پیل کړې وه، تر څو واقعي مستحقین وپېژندل شي او هغوی د شهیدانو او معلولینو وزارت د کړنلارې سره سم ثبت شي، همداراز د وزارت د منظور شوي پلان پر اساس د هغوی میاشتني نغدي مساعدتونه (ماهانې) په مرکز او ولایتونو کې د بانکې سیستم له لارې پر وخت ورکړل شوي، سربېره پر دې، د شهیدانو ورثه ؤ او معلولینو سره د غیر نغدي مرستو لکه ویلچرونو، خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې هم د خیریه مؤسسو او نهادونو په همغږۍ ترسره شوې دي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت دویمه ګڼه مجله چې چاپ شوه، په دې مجله کې د وزارت د لاسته راوړنو او د عمده فعالیتونو د راپورونو سربېره، اسلامي، ادبي او معلوماتي مطالب هم خپاره شوي دي.

# د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر

مجموعي ثبت شوي یتیمان، کونډې او معلولین

۶۵۳۲۶۵

مجموعي ثبت شوي معلولین

۱۸۹۶۳۵

مجموعي ثبت شوي کونډې

۹۴۰۹۷

مجموعي ثبت شوي یتیمان

۳۶۹۵۳۳

د ملکي شهیدانو د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر

۳۶۳۳۲۱

د اسلامي امارت د سپېڅلو شهیدانو ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر

۱۶۷۶۴۵

د تېرې ادارې د وژل شویو عسکرو او منسوبینو د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو مجموعي شمېر

۱۲۲۲۹۹

# په ټولنه کې د یتیمانو حقوق

مفتي فیصل خاموش
د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس

د شریعت په اصطلاح یتیم هغه ځاته ویل کېږي چې بلوغ ته له رسېدو مخکې یې پلار مړ شوی وي برابره خبره ده که غریب وي او که مالداره، د فقهې مشهورو علماء کرامو لکه عبدالله بن محمود او علامه ابن نجیم رحمهم الله په خپلو کتابونو کې همدا ډول تعریف کړی : والیتیم کل من مات ابوه ولم یبلغ الحلم غنیا کان اوفقیرا (( الاختیار لتعلیل المختار ۵/۸۰ البحرالرائق ۸/۵۱۲))
همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي: چې له بلوغ وروسته یتیم والی نشته یعني کله چې یو ځوک ځوان او بالغ شو بیا دغه کس ته یتیم ویل صحیح نه دي.
لایتم بعدالاحتلام( ابوداود ۳/۱۱۵)
په عامه توګه یتیم د خپل پلار له شفقت، مهرباني، مینې، او الفت څخه محروم او د خپلو خپلوانو اود ټولنې د مهرباني او شفقت محتاج وي د پلار شتون د اولادونو لپاره حفاظت، امن، محبت او د رحمت باعث وي د یوې کورنۍ مشر او پلار د خپلې کورنۍ لپاره د یوې سیوري لرونکې ونې او د یو ښه ساتونکې او ډال حیثیت لري نو پلار د خپلو اولادونو د نفقې، کفالت، ساتنې او تربیې لپاره خپل ځان قرباني کوي او ډول ډول تکلیفونه، ستونزې په ځان تېروي ترڅو بچیان یې په راحت او سوکالۍ سره خپل ژوند تېر کړي د پلار په مرګ سره د یتیمانو د سر سیوري ختم او ټوله کورنۍ د نورو خلکو محتاجه شي، په داسې حالت کې یتیمانو ته خپل نژدې خپلوان پردي او سترګې بدلې کړي ګاونډیان ورته سپک نظر کوي ځینې سخت زړه لرونکي خلک د یتیمانو مال جایداد ته سترګې پټې کړي او په بېلا بیلو بهانو د دوی په مالونو حملې شروع کړي وي همدا راز د پلار په مرګ سره په معصومو یتیمانو د ظلم او ستم داسې لړۍ شروع شي چې هیڅ پای نه لري.
یتیم ماشومان په ځانګړي توګه د عاطفي او ذهني فشار سره مخ کېږي ځکه چې هغوی د پلار ملاتړ له لاسه ورکړی دي دا د هغوی په رواني وضعیت کې ژور تاثیر کوي چې په راتلونکي کې ددوی پر ټولنیز او اخلاقي ژوند اغیزه کوي، یتیمان معمولاً د کورنۍ او ټولنې د افرادو لخوا کم ملاتړ ترلاسه کوي او دا د هغوی په شخصیت کې منفي بدلونونه راولي، په ډېرو ټولنو کې یتیمان د اقتصادي ستونزو سره مخ کېږي، پلار له لاسه ورکول یتیم ماشومان د هغه مالي ملاتړ څخه بې برخې کوي چې د دوی د ژوند د اړتیاوو لپاره مهم وي، ډېري یتیمان مجبورېږي چې کار وکړي او خپلې اقتصادي اړتیاوې په خپله پوره کړي چې دا د دوی تعلیمي او ذهني پرمختګ ته لوی خنډ جوړېږي
متاسفانه زمونږ په ټولنه کې اوس مهال د هغو کورنیو شمیر ډېر زیات دی چې پلار به یې په ډېر ناز او مینې سره د خپلو اولادنو پرورش او تربیه کوله د دوی هره خبره به یې منله تر څو دوی خوشحاله او ښه سوکاله

ژوند ولري كله چې يې پلار مړ شي د پلار د مرګ سره سم د نورو خپلوانو په سرپرستي کې د همدغه نازولو يتيمانو ژوند له غلامانو هم بدتر شي ان تردې چې ځينې يې له ډېر ظلم او ستم څخه له كوره وتښتي او ځيني نور بيا په همدغه كور كې هره ورځ او شپه په سرو سترګو سبا کوي دا د الله جل جلاله له لوري په مسلمانانو يو ډول امتحان او ازمويښت وي چې په كې ځوک کامياب او ځيني نور ناكام شي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: په مسلمانانو کې تر ټولو غوره کور هغه دی، چې له يتيم سره په کې ښه چلند کېږي او تر ټولو بد کور هغه دی چې له يتيم سره په کې ناوړه چلند کېږي. ( ابن ماجه. ۱۲۱۳/۲)

له شک پرته د اسلام مبارک دين د ټولنيز ژوند د انسانانو د عزت وقار او حقونو ساتونکی او په خاصه توګه د يتيمانو د حقونو يادوونه او سپارښتنه کړې الله جل جلاله په قران کريم کې له شلو زياتو ځايونو کې د يتيم په موضوعاتو اړوند احکامات نازل کړي همدا راز رسول الله صلى الله عليه وسلم هم په ډېرى حديثونو کې د يتيم د کفالت او تربيت باندې د ډېر اجر او ثواب او عزت بشارت او زيرى ورکړى دى.

**له يتيمانو سره مالي کومک:**

د اسلام په مبارک دين کې د يتيمانو پالنه يو لوى فضيلت ګڼل کېږي د قران کريم او احاديثو په رڼا کې له يتيمانو سره مرسته کول او د هغوى حقوق خوندي کول د هرمسلمان ذمه واري ده، د يتيم له حقونو سرغړونه په اسلام کې يوه لويه ګناه ګڼل شوې او له هغوى سره ښه چلند کولو ته ډېر زيات ټينګار شوى دى همدا راز د اسلام مبارک دين په هر مالداره او شتمن شخص باندې دا لازمه کړې چې د خپل مال څخه به د يتيمانو سره مالي کومک اوامداد کوي الله جل جلاله په قران کريم کې دا سپارښتنه خوځايه کړې الله جل جلاله فرمايي:

).يَسْأَلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ ۖ قُلْ مَا أَنفَقْتُم مِّنْ خَيْرٍ فَلِلْوَالِدَيْنِ وَالْأَقْرَبِينَ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ ۗ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ فَإِنَّ اللَّهَ بِهِ عَلِيمٌ . (( البقرة : ۲۱۵)

خلک له تاڅخه پوښتنه کوي چې مونږ څه مصرف کړو ؟ ځواب ورکړه: کوم مال چې تاسی لګوئ په خپل مور او پلار ، خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، او مسافرو باندې يې ولګوئ، او تاسو چې هره ښېګڼه کوی الله جل جلاله ورباندې خبر دی. ( البقرة : ۲۱۵)

بل ځاى الله جل جلاله فرمايي:

وَآتَى الْمَالَ عَلَىٰ حُبِّهِ ذَوِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينَ وَابْنَ السَّبِيلِ وَالسَّائِلِينَ وَفِي الرِّقَابِ ( البقرة : ۱۷۷)

ژباړه : خپل ګران مالونه په خپلو خپلوانو، يتيمانو، مسکينانو، مسافرو، سوالګرو او د مريانو په آزادولو مصرف کړي.

همدا راز د انفال په سورت کې الله جل جلاله فرمايي:

وَاعْلَمُوا أَنَّمَا غَنِمْتُم مِّن شَيْءٍ فَأَنَّ لِلَّهِ خُمُسَهُ وَلِلرَّسُولِ وَلِذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ وَابْنِ السَّبِيلِ إِن كُنتُمْ آمَنتُم بِاللَّهِ وَمَا أَنزَلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا يَوْمَ الْفُرْقَانِ يَوْمَ الْتَقَى الْجَمْعَانِ ۗ وَاللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ( انفال: ۴۱)

ژباړه: او تاسو ته دي معلومه وي چې د غنيمت څه مال چې تاسو په لاس راوړى دى، د هغه پنځمه برخه د الله جل جلاله، د هغه د پيغمبر صلى الله عليه و سلم، د خپلو خپلوانو، د يتيمانو، د مسکينانو، او د

مسافرو لپاره دی.
له یتیمانو سره مالی کومک کول یو مهم عبادت ګڼل کېږي او د یتیمانو د مالي ملاتړ لپاره بېلا بېلې شرعي لارې او موارد شته لکه :

**یتیمانو ته زکات ورکول**

یتیمان که بېوزله وي د زکات مستحق دي، په شریعت کې زکات ورکول یو فرض عبادت دی، او هغه څوک چې مال یې د زکات نصاب ته رسېدلی وي، باید د نورو بېوزلو په ګډون یتیمانو ته هم زکات ورکړي. الله تعالی فرمايلي دي: انما الصدقات للفقراء والمساکین ( التوبة : ۶۰)
په دې ایت کې المساکین د هغو خلکو لپاره هم کارول کېږي چې هیڅ ډول مالي وسایل ونه لري، او که یو یتیم چې د دې ځانګړتیاوو درلودونکی وي، نو هغه ته زکات ډېر اجر او ثواب لري.

**صدقه ( خیرات)**

صدقه یا خیرات ورکول په اسلام کې یو غوره عمل ګڼل کېږي او د نیکۍ او رحمت یوه مهمه برخه ده، له یتیمانو سره په اختیاري ډول مالي مرسته او یا خیرات ورکول د ثواب کار دی

**وقف:**

وقف ( د خیر لپاره د مال وقف کول) یوه بله شرعي لاره ده، که څوک ځمکه، کور یا بله شتمني د یتیمانو لپاره وقف کړي نو هغه شتمني به د یتیمانو د اړتیاوو لپاره مصرف کېږي،او د دې عمل اجر به د تل لپاره پاتې وي. او صدقه جاریه به وګرځي.

**عطیه او هبة**

له یتیمانو سره مرسته د هبې یا عطیې په بڼه هم کېدلای شي،که یو څوک یتیمانو ته خپل مال په هبه د مالي مرستې په توګه ورکړي، نو دا هم یو غوره عمل دی، او د هغوی د مالي ملاتړ یوه مهمه لار ده.
له پورتنیو ایاتونو څخه معلومېږي چې باید هر مسلمان د یتیم سره مالي کومک او امداد وکړي لاسنیوی یې وکړي د خوراک څښاک او د استوګنې ترتیب ورته برابر کړي ځکه چې له یتیم سره مالي کومک او مرسته کول ډېر اجر او ثواب لري.

**له یتیمانو سره ښه چلند کول**

له یتیمانو سره د ښه چلند معنی دا ده چې چې له دوی سره هم داسې چلند وکړې څرنګه یې چې د خپلو خاص بچیانو او اولادونو سره کوې ، د دوی د تعلیم، تربیې، خوراک، څښاک، او نورو ضرورتونو او اړتیاوو خیال وساتې، له دوی سره د مینې او محبت ډکې خبرې وکړې په دوی باندې شفقت وکړې د دې لپاره چې یتیم د خپل پلار د نشتون احساس ونکړي، داسې یتیمان چې د پلار سیوری پر سر نه لري له دوی سره ښه چلند او ښه رویه کول جنت ته د داخلیدو ذریعه ده، خپله زمونږ ګران پېغمبر محمد صلی الله علیه وسلم د یتیمي په حالت کې دنیا ته سترګې غړولي وي حافظ ابن کثیر رحمه الله په خپل کتاب کې د ډیری علماء کرامو اقوال رانقل کړي او فرمايي:
کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور په خېټه وو پلار یې عبدالله وفات شو. ان امه حین حملت

به توفی ابوه عبدالله وهو حمل فی بطن امه علی المشهور( البداية والنهاية: ۲/۲۶۳)
د ځینو نورو علماء کرامو په اند باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم له پیدایښت څخه اته ویشت(۲۸) میاشتې مخکې یا اوه (۷) میاشتې مخکې همدا راز د ځینو نورو په اند دوه (۲) میاشتې مخکې یې پلار له دې فاني دنیا څخه رحلت کړی وو.
(توفی عبدالله بن عبدالمطلب بعد ما اتی علی رسول الله صلی الله علیه وسلم ثمانية وعشرین شهرا وقیل سبعة اشهر وقال محمد بن س عد: والاول اثبت انه توفی رسول الله صلی الله علیه وسلم حمل وقال الزبیر بن بکار: حدثنی محمد بن حسن عن عبدالسلام عن ابن خربوذ قال : توفی عبدالله بالمدینة ورسول الله صلی الله علیه وسلم ابن شهرین) ( البداية والنهاية : ۲/۲۶۲)
علامه ابن اثیر رحمه الله په خپل کتاب کې د هشام بن محمد رحمه الله قول رانقل کړی هغه وایي: د رسول الله صلی الله علیه وسلم له څخه اته ویشت (۲۸) ورځې مخکې یې پلار وفات شوی وو.
قال هشام بن محمد: توفی عبدالله بن عبدالمطلب ابورسول الله بعدما اتی علی رسول الله ثمانية وعشرون یوما. (الکامل فی التاریخ: ۱/۴۲۳)
خو سهحي قول دا دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور په خیټه کې وو، یعنې مور یې حامله وه چې پلار یې وفات شو. او دا په یتیمتوب کې هغه لویه او اعلی مرتبه ده.
والذي رجحه الواقدي وكاتبه الحافظ محمد بن سعد: انه عليه الصلاة والسلام توفي أبوه وهو جنين في بطن امه وهذا ابلغ اليتم وأعلى مراتبه( البداية والنهاية: ۲/۲۶۳)
په قران کریم کې الله جل جلاله خپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ته فرمایي:
أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى ﴿ الضحى ۶﴾ وَوَجَدَكَ ضَالًّا فَهَدَى ﴿۷﴾ وَوَجَدَكَ عَائِلًا فَأَغْنَى ﴿۸﴾
ایا هغه ته یتیم پیدا نه کړې او بیا یې پناه درکړه، او ته یې دشریعت له احکامو څخه نابلد وموندلې او بیا یې لاربښوونه درته وکړه. او ته یې بېوزله وموندلې او بیا یې شتمن کړې .
دلته الله جل جلاله فرمایي: مونږ سره لدېنه چې ته یتیم پیدا کړې خو بیا مو هم ستا د کفالت خوراک څښاک او سرپرستی انتظام وکړ، د لوی منصب ( نبوت) مو څښتن کړې وراندې الله جل جلاله په همدې سورت کې فرمایي:(فَأَمَّا الْيَتِيمَ فَلَا تَقْهَرْ )﴿۹﴾
نو په یتیم باندې قهر مه کوه
مفسرین لیکي: چې دلته الله جل جلاله رسول الله صلی الله ته سپارښتنه کوي چې د یتیم خبر واخله پالنه یې وکړه لکه څرنګه چې تاته الله جل جلاله د یتیمۍ په حالت کې ښه ځای درکړ نو ته هم د یتیمانو زړه خوشحاله کوه، د هستوګنې ځای ورته برابروه د خوراک څښاک انتظام یې کوه او مه ورته په قهر کېږه.
امام مجاهد رحمه الله د دغه ایت په تفسیر کې فرمایي: چې یتیم به نه سپکوې او نه به یې بېعزته کوې. (تفسیر الطبری : ۲۴/ ۴۸۹)
همدا راز مطلق یتیم سره باید ښه رویه نیکي او ښه اخلاق وشي برابره خبره ده که یتیم مالدار وي او که

غریب ځکه چې په قران کریم کې الله جل جلاله د احسان او نیکي امر له مطلق یتیم سره کړی او یتیم یې مقید کړی نه دی په فقر سره  الله جل جلاله فرمايي: وَاعْبُدُوا اللَّهَ وَلَا تُشْرِكُوا بِهِ شَيْئًا وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَبِذِي الْقُرْبَى وَالْيَتَامَى وَالْمَسَاكِينِ ( نساء :۳۶)

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو کس د زړه له سختوالي شکایت وکړ نبي علیه السلام ورته وفرمایل: که غواړې چې زړه دې نرم شي مسکین ته خوراک ورکړه او دیتیم سر مسحه کړه.

عنْ أَبِي هُرَيْرَةَ -رضي الله عنه-: أَنَّ رَجُلاً شَكَا إِلَى رَسُولِ اللهِ –صلی الله علیه وسلم- قَسْوَةَ قَلْبِهِ، فَقَالَ لَهُ: «إِنْ أَرَدْتَ أَنْ يَلِينَ قَلْبُكَ فَأَطْعِمِ الْمِسْكِينَ، وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ». ( السنن الكبرى: ۶۰/۴) ( مسنداحمد: ۲۶۳/۲)  ( فتح الباری: ۲۵۲/۵)

 الله جل جلاله فرمايلي : یتیما ذا مقربة (بلد ۱۵)

امام قرطبی رحمه الله د پورتني آیت په تفسیر کې فرمايي:

دا آیت کریمه مونږ ته لارښوونه کوي چې په خپلوانو باندې صدقه کول غوره ده په نورو باندې ، لکه څرنګه چې پر هغه یتیم صدقه کول غوره او بهتره دي چې هیڅ پالونکی اوسرپرست نه لري پرهغه یتیم چې پالونکی او سرپرست درلودونکی وي

يعلمك أن الصدقة على القرابة أفضل منها على غير القرابة، كما أن الصدقة على اليتيم الذي لا كافل له أفضل من الصدقة على اليتيم الذي يجد من يكفله . تفسير القرطبی( ۶۹/۲۰)

له دې ځایه دا معلومیږي چې د خپلوانو او بې سرپرسته یتیمانو سره مرسته کول باید د مسلمان د اخلاقو یوه مهمه برخه وي ځکه دا عمل نه یوازې د مسلمان ایمان پیاوړی کوي بلکې د ټولنې د کمزورو خلکو ملاتړ او یووالي ته زمینه برابروي

**د شهیدانو له کورنیو سره مالي مرسته کول:**

فقهاء کرامو رحمهم الله په خپلو کتابونو کې د شهیدانو مجاهدینو له کورنیو سره د بیت المال له لوري په مالي کومک ټینګار کړی دی، هغوی ویلي چې باید د شهید میرمنې او ماشومانو ته د هغه له شهادت وروسته د بسنې په اندازه مصارف ورکړل شي، تر څو مجاهدین مطمئن شي ځکه کله چې هغوی پوه شي چې له شهادت وروسته مو د اهل او عیال غم خوړل کیږي او دبیت المال له لوري ورسره کومک کیږي جهاد ته به په ښه زړه اماده شي .

وَمَنْ مَاتَ مِنَ الْمُرْتَزِقَةِ دَفَعَ إِلَى زَوْجَتِهِ وَأَوْلاَدِهِ الصِّغَارِ قَدْرَ كِفَايَتِهِمْ؛ لِأَنَّهُ لَوْ لَمْ تُعْطَ ذُرِّيَّتُهُ بَعْدَهُ لَمْ يُجَرِّدْ نَفْسَهُ لِلْقِتَال؛ لِأَنَّهُ يَخَافُ عَلَى ذُرِّيَّتِهِ الضَّيَاعَ، فَإِذَا عَلِمَ أَنَّهُمْ يُكْفَوْنَ بَعْدَ مَوْتِهِ سَهُل عَلَيْهِ ذَلِكَ. الموسوعة الفقهية ( ۲۰۵/۲۲)

ژباړه : کوم عسکر چې ووژل شي د هغه میرمن او کوچنیو ماشومانو ته د بسنې په اندازه مصرف ورکول کیږي، ځکه که چیرته د هغه اهل او عیال ته مصرف ورنکړل شي، هغه بیا د جنګ لپاره ځان نه وزګاروي، ځکه د خپل اولاد د ضیاع وېره به ورسره وي. او که چېرته معلومات ورته وشي، چې له مرګ وروسته یې غم

خوړل کېږي، بیا ورته جنګ ته وړاندې کېدل اسان وي،
وَمَنْ بَلَغَ مِنْ أَوْلَادِهِ وَهُوَ أَعْمَى أَوْ زَمِنٌ رُزِقَ كَمَا كَانَ يُرْزَقُ قَبْلَ الْبُلُوغِ، هَذَا فِي ذُكُورِ الْأَوْلَادِ أَمَّا الْإِنَاثُ فَمُقْتَضَى مَا وَرَدَ فِي « الْوَسِيطِ « أَنَّهُنَّ يُرْزَقْنَ إِلَى أَنْ يَتَزَوَّجْنَ. الموسوعة الفقهية ( ٢٠٥/٢٢)
که بلوغ ته له رسېدو وروسته يې په ماشومانو کی کوم يو ړوند او يا شل وي هغه ډول روزي به ورکول کېږي چې له بلوغ وړاندې ورکول کېده داد نارينه لپاره حکم ده، د ښځينه اولاد په اړه د امام غزالي رحمه الله له کتاب ( وسيط) څخه داسې معلومېږي چې تر هغو به مصارف ورکول کېږي تر څو چې واده شوي نه وي.
همدا راز له شک پرته د شهيدانو د يتيمانو پالنه ډېر اجر او ثواب لري خو بايد د عامو مسلمانانو او يا کافرانو او له دوی سره په صف کې ولاړو ملګرو يتيمان هم له پامه ونه غورزول شي ځکه چې د يتيمانو د پالنې په باب چې څومره فضائل راغلي هغه مطلق او ټولو يتيمانو ته شامل دي ، بناء بايد د ټولو يتيمانو د کفالت تعليم تربيې خوراک څښاک ترتيب جوړ او شفقت او رحم وربانديې وشي د دوی لپاره د مالی مرستو او کومکونو په اړه بايد هلې ځلې او کوششونه وشي
عبدالقدير المناوی رحمه الله فرمايي:
فيض القدير (١ / ١٠٨):
وإطلاق الأخبار شامل لأيتام الكفار ولم أر من خصها بالمسلم. فيض القدير (١ / ١٠٨)
ژباړه: د احاديثو اطلاق د کفارو يتيمانو ته هم شامل دی او ما تر اوسه داسې څوک نه دي ليدلي چې ديتيم د کفالت په اړه راغلي روايات يې تر مسلمان يتيم خاص کړي وي.
بناء په افغانستان کې تقريبا د څلوېښت کلونو پرلپسې جنګونو او ناخوالو وروسته مونږ او تاسو ته په ډېر زيات تعداد سره کونډې او يتيمان را پاتي دي، داسې کورنۍ هم لرو چې د کونډو اويتيمانو شمير يې دوه ويشت(٢٢) ته رسېږي داسې کلی ښار او قريه نه لرو چې هلته د کفارو او ملګرو لخوا يې وحشت چاپه او بمبار نه وي شوی او ګڼ شيمر هيوادوال مو نه وي شهيدان شوي دا چې اوس الحمد لله کفار او ملګري يې له شکست سره مخ او په ټول هيواد کې اسلامي نظام نافذ دی هرې خوا ته د امن فضا او څادر خپور دی. د اسلامي امارت مشرتابه د شفقت او ترحم په اساس او د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت لخوا هر کال په ميلياردونو بوديجه له توپير او تبعيض پرته د اسلامي امارت د سپېڅلو شهيدانو په کونډو يتيمانواو معلولينو، ملکي شهيدانو په کونډو يتيمانو او معلولينو او د تيرې اداري د وژل شويو عسکرو په کونډو يتيمانو او معلولينو باندې په يوه اندازه په شفاف ډول د بانکې سيستم له لارې وېشل کېږي. د خيريه بنسټونو او شتمنو هيوادوالو له خوا هم وخت پر وخت خوراکي توکي، البسه او نور اړين توکي په مستحقو يتيمانو وېشل کېږي، الله جل جلاله دې وکړي چې دا ډول ترتيبونه او پروګرامونه نور هم ډېر او زيات شي او چې هر څوک له يتيمانو سره مالي او نوري مرستې کوي الله جل جلاله دې په خپل دربار عاليه کې قبولې او منظوري کړي.

تمت بالخير

# د شهید ملا بورجان آخند ژوند ته کتنه

اسدالله "عزیزي" «د ویبسایټ عمومي مدیر»

شهید ملا بورجان چې اصلي نوم یې ملا امین الله دی د حاجي ملام محمدصادق زوی او د ملا موسی جان لمسی په ۱۳۷۹ هـ ق ۱۹۵۸م کې دکندهار ولایت د پنجوایي ولسوالۍ د تلوکان په یوه دینداره او مجاهده کورنۍ کې دې فاني نړۍ ته سترګې غړولې دي.

## زده کړه او تعلیم:

دا چې د نوموړي تعلق په یوه علمي کورنۍ پورې ونو د هغه والد صاحب دا کوښښ کاوه،چې د ده زوی هم دخپلې کورنۍ د اسلافو په څېر په علمي مسلک کې داخل او له هغې لارې څخه د خپل دین عقیدې او وطن لپاره د خدمت مصدر وګرځي. خو د الهي تقدیر له مخې نوموړی د خپل ژوند په دوهمه لسیزه کې وو چې والد صاحب یې وفات شو او خپل وروستی ژوند یې د هغه دشفقت او مهرباني له سیوري لیرې په یوازیتوب کې د خپل مور تر سرپرستي لاندې د علم طلب او حصول ته وقف کړ. نوموړی د هغې بې ساري مینې او شوق له مخې چې له دیني تعلیم سره یې درلود د ژوند په ډیرو ستونزمنو شرایطو کې د سیمې په مدارسو او مساجدو کې خپل ابتدایي او منځیني تعلیمات سرته ورسول.

## جهاد او مبارزه یې:

شهید ملا بورجان تازه دخپل ارمان(داسلامي تعلیماتو) د حصول منځینۍ مرحلې ته داخل شوی وو، چې زمونږ په هېواد کې کمونستانو د یوي فوځي کودتاه له لارې د قدرت واګې ترلاسه کړل. دا مهال شهید ملا بورجان نوی د ځوانۍ په موسم ورګډ شوی وو په زړه کې یې د درس او ښوونې ترڅنګ د جهاد او جهادي سنګرونو مینه هم په جوش راغلې وه.دا هغه وخت وو چې دهېواد د جنوب لویدیځ زون په شمول د افغانستان په ټولو ولایتونو کې د کمونستانو په خلاف د اسلامي جهاد او مقابلې بیرغ اوچت شوی و.کمونستانو په ټول افغانستان کې د مدارسو ښوونکي عالمان، استادان او د اسلامي فکر لرونکي کسان د دولت او کمونیستي عقیدې د دښمنۍ په تور بندیانول او بیا به یې د ننني صلیبیانو او د هغوی د غلامانو په شان همداسي له شواهدو او اسنادو پرته په ګوندي او کمونیستي محاکمو کې په شهادت رسول.شهید ملا بورجان هم همغه وخت له درس او مدرسې سره خدای پاماني وکړه.او د جهادي جبهې په لوري یې مخه کړه چې کمونیستانو د نوموړي ددیني ښوونو ډېر استادان په افغانستان کې دسوسیالیستي ترقۍ د مخالفت په تور بندیان او بیا یې په مظلومانه توګه په شهادت ورسول.که څه هم دا وخت شهید ملا بورجان د عمر په لحاظ کم عمره ووخو د غیرت،شهامت،او سرښندنې په ډګر کې بیا تر ټولو زړه ور،غیرتي او سرشاره مجاهد وو.جهادي خدمت یې ۲۵ کلنۍ کې د کندهار ولایت په پنجوایي ولسوالۍ کې د جنوب لویدیځې حوزې مشهور جهادي قمندان ملا حاجی محمد اخند له جبهې څخه پیل کړ.شهید ملا بورجان په ډیر لږ وخت کې د خپلې بې کچې زړورتیا له مخې په دغې جبهې کې تر ټولو د بهادر او غیرتي مجاهد لقب خپل کړ،چې له امله یې په ټوله سیمه کې د یو شجاع ،تکتیکي او ځیرک مجاهد په نوم مشهور شو.

له ۱۹۸۰م تر۱۹۸۹پورې د هېواد جنوب لویدیځه حوزه په تېره د کندهار ولایت مرکز د مجاهدینو او روسانو او د هغوی د غلامانو خلقیانو او پرچمیانو د خونړیو عملیاتو ساحه وه،د کندهار ولایت مرکز او د هغوو په شاوخوا سیمو کې به هیڅ داسي ورځ نه تېریده چې په هغه کې دي په لسګونو روسي زغره وال وسائط او بې شمېره روسي پوځیان د مجاهدینو د مرګونیو عملیاتو په ترځ کې له منځه نه وي وړل

شوي.
دکندهار ولایت د خپل سوق الجیشي حیثیت له مخې روسانو او په کابل کې د هغوی ګوډاګي رژیم ته لکه د تېر امریکایي اشغال په څېر امریکایانو او په کابل کې د هغوی لاسپوڅي اداري ته ډېر د اهمیت وړ ولایت بلل کېده، همدا لامل و چي د هغه د ساتنې او په هغه کې د مجاهدینو د پوځي فعالیتونو مخنیوي ته يې ډېره پاملرنه کوله.
هغوی د کندهار ښار ساتنې لپاره د هغه شاوخوا مستحکم امنیتي کمربندونه جوړ کړي وو او د هغوی ساتونکي روسي او افغان پوځیان يې د وخت په تر ټولو پرمختللیو پوځي وسائلو مجهز کړي وو.مجاهدینو هم کوشش کاوه چې په دغه مهم ښار باندي خپلې حملې زیاتې او هغه تر خپلې محاصرې لاندي وساتي.
مجاهدینو ددي کار لپاره د کندهار ښار چارچاپیره او په خاص ډول د محله جات، پاشمول، خوشاب او... په سیمو کې د کندهار ښار د محاصرې او په هغه باندې د ترسره کوونکو عملیاتو لپاره پوځي کمربندونه تشکلیل کړل او په هغو کې يې د سیمې تر ټولو مجرب او با تدبیره مجاهدین له ښو پرمختللیو وسلو سره ځای پر ځای کړي وو.
دغه مجاهدین چې شمېر يې سلګونو تنو ته رسېده د وخت په بیلابېلو جهادي تنظیمونو پوري مربوط وو، خو دلته د جګړې په محاظ کې د هغوی ټولو مشري د شهید ملا بورجان په غاړه وه،نوموړی که څه هم چې تنظیمې وابسته ګي يې د مرحوم مولوي محمد یونس(خالص) په اسلامي حزب پوري وو خو د خپل جهادي شهرت له امله يې د وخت د ټولو جهادي رهبرانو په زړه کې خاص ځای درلود ټولو جهادي رهبرانو د نوموړي په پوځي لیاقت زړورتیا او عسکري پوهې باندي پوره باور درلود او له همدي امله يې نوړی د کندهار په سطحه د کندهار د جنګ د لومړی کرښې د عمومي مسؤل په توګه ټاکلی وو، د روسې یرغل پر مهال د کندهار ولایت د مشهورو مجاهدینو په شاهدي شهید ملابورجان لومړنی شخص وو چې په رڼا ورځ يې په دغه سیمه کې د روسانو او خلقیانو(کمونیستانو) په پوځي مرکزونو چریکي حملې پیل کړې.
شهید ملا بورجان د غیرت، سرښندنې، تدبیر او زړورتیا یوه نمونه وه.د هغه به پر دښمن خاص روب پروت وو، په کومو پوځې عملیاتو کې چې به نوموړی شریک وو د ټولو مجاهدینو به په هماغو عملیاتو کې د ځان په بریالیتوب باندي پوره باور وو.
د روسي یرغل په مهال یوه شپه مجاهدینو پروګرام ترتیب کړ چې د کندهار په ښار کې دننه دروسانو په یو مهم پوځې مرکز عملیات ترسره کړي، د دغو عملیاتو قومنده د ملا بورجان په غاړه وه.
نوموړي د مجاهدینو له منځه څو تکړه مجاهدین انتخاب کړل چې د هغوی له جملې څخه یو هم د افغانستان د اسلامي امارت زعیم عالیقدرامیرالمؤمنین ملا محمد عمر مجاهد وو.هماغه پوځي مرکز ته له رسېدو سره يې نور مجاهدین د مرکز په شاوخوا کې ځای پر ځای او دی خپله د مرکز همجواره د یوې ودانۍ بام ته ورپورته شو هلته يې ولیدل چې ګڼ شمېر روسان او ساتونکی خلقیان يې د مرکز په دننه کې د پرو(قطعو)په لوبو بوخت دي.سمدستې يې له خپلو ملګرو مجاهدینو څخه هغه توغندی چې لا مخکې يې د توغولو لپاره چمتو کړی وي د بام سرته ورپورته کړ او له هغه څخه يې په غافل ګیره توګه د روسانو په همغه بنداري مجلس باندي ګوزار کړ، چې له امله يې په یاد مرکز کې ډېره روسانو او د هغوی مزدورانو ته مرګوني تاوان ورواړوه، خو خپل ځان او ورسره ټول مجاهدین يې په سالمه توګه بېرته خپل مرکز ته راورسول.
همداراز چه کله په ۱۹۸۸م کال کې د کندهار ولایت د ارغنداب ولسوالی ته چې هغه مهال د مجاهدینو تر ټولو محکم او مضبوط سنګر ګڼل کېده د روسانو یوه ډېره لویه پوځي قوه راغله چې د هغې مشري په

افغانستان کې د روسي قواوو د مشر قومندان جنرال بوریس ګروموف په غاړه وه . دغه قوه چې د روسي چاړواکو په وینا ۱۲۰۰۰۰کسیز پوځ تر ټولو لویه قوه وه چې په ډېر شمېر روسي پوځیانو د زیات شمېر الوتکو او زغره والوو وسایطو په ملتیا پکې برخه درلوده.

په دغه جګړه کې روسي ځواکونو په جنوب غربي حوزه کې یو بل مشهور جهادي قومندان او دارغنداب د مجاهدینو عمومي مشر ملا نقیب الله د هغه له ټولو مجاهدینو سره ۳۳ ورځې محاصره کړی ؤ.شهید ملا بورجان چې دا مهال د پاشمول او محله جات په سیمه کې د روسي ځواکونو له خوا د ورته محاصرې تر تهدید هم لاندې وو دا یې ونشو زغملای چې ارغنداب کې دی د ده نور مجاهدین ورونه دروسانو تر وژونکو بمباریو لاندې محاصره پاتې شي.

هماغه و چې له خپلو ګڼ شمېر تکړه مجاهدینو سره سیمې ته ورغی د روسي ځواکونو په حلقوي کرښو یې د شاله لوري ناڅاپه تکتیکي حملې وکړې چې په پایله کې یې دښمن تیت او پرق کړ او مجاهدین یې د هغوی له محاصرې څخه را خلاص کړل.د شهید ملا بورجان په مشرۍ د ارغنداب ولسوالۍ څخه د روسي ځواکونو دغه ستري حملې پر شا تمبول د دې لامل شو چې نور بیا روسي ځواکونو تر هغو چې په ۱۹۸۹-۲-۱۵ کال کې له افغانستان څخه تلل د دې جرأت پیدا نکړ چې بیا د په کندهار ولایت کې د مجاهدینو کوم مرکزه محاصره او یا برید وکړي.د ملا بورجان دې تاریخي کارنامې د نوموړي شهرت او محبوبیت نور هم پسې زیات کړ . د شهید ملا بورجان ټول جهادي دور دا یو امتیاز درلود چې دښمن هیڅ کله په ده باندې د برید کولو جرأت په ځان کې نشو پیدا کولی، بر عکس زیاتره وخت به د ده ( شهید ملا بورجان) له خوا روسي او مزدور افغان ځواکونه یې تر برید لاندې نیول کیدل. نوموړي د جهاد ټول وخت جنوب لویدیځې حوزې د مجاهدینو د یو تکړه او مشهور قومندان په توګه له روسي ځواکونو سره په مخامخ جګړو کې تېر کړي او دوه ځلي په دغو جګړو کې سخت زخمي شوی هم دی. لومړی ځل په ۱۹۸۶م کې کله چې مجاهدین د کندهار ښار ترڅېرمه د باغ پل په سیمه کې د روسی ځواکونو له لوري محاصره شول او دی یې د خلاصون په نیت ورغی هلته د مجاهدینو د محاصرې تر ماتولو وروسته د یو ځمکني ماین د انفجار په وسیله ټپي شو. دوهم ځل بیا په ۱۹۸۷م کال کې د محله جات په سیمه کې له روسي ځواکونو سره په هغه خونړۍ جګړه کې زخمي شو کومه چې روسانو په دغه سیمه کې د مجاهدینو د لومړیو کمربندونو د لمنځه وړلو په غرض پیل کړې وه او د حاجي معاون صاحب(ملا محمدرباني ) په شمول د مجاهدینو یو شمېر نور مهم مشران پکې زخمیان شول.خو په دغو دواړو وارونو کې یې زخمي کېدل د دې لامل نشول چې د ده په جهادی عزم کې دې کمزورتیا راولي، بلکې له هغو زخمونو به لا مکمل نه و روغ شوی چې بیا به د عملیاتو محاذ ته ولاړ. په افغانستان کې د نجیب په مشرۍ د کمونیستي نظام تر ړنګېدو وروسته ملا بورجان هم د نورو مخلصو مجاهدینو په څېر په کور آرام کښیناست او د تنظیمي اختلافاتو په مهال یې هیڅ کوم حزبي جهت په ګټه د هغوی په داخلي غورځوو پرځو کې ګډون ونکړ.

## د طالبانو د تحریک په تأسیس کې د شهید ملا بورجان مهم رول:

په افغانستان کې د طالبانو اسلامي تحریک په داسې حالت کې رامنځته شو چې د شهید ملابورجان په څېر زیات شمېر مخلص مجاهدین د څوارلس کلن مقدس جهاد د سپېڅلو ارمانونو له ترلاسه کولو څخه مایوسه شوي وو. ټول هېواد د ورور وژونکې ناروا جګړې سوځوونکو لمبو په سر اخیستی و او په کابل کې یونیم میلیون ارمانجنو شهیدانو د توقع خلاف د نړیوالو کفري دسیسو په ترڅ کې منځته راغلي بې واکه فاسده اداره حاکمه وه. هغو مجاهدینو چې په هېواد کې یې د یو سوچه اسلامي نظام دپلې کیدو په غرض بیدریغه قرباني ورکړې وې،تکلیفونه یې ګاللي

وو، ډیر شمېر خپلوان او سنګر خوارېه ملګري یې له لاسه ورکړي وو، هغوی ته تربل هر څه ناوړه حالت د زغملو وړ نه وو هغوی که تر بل هرڅه د اسلامي حکومت د قائمولو په لار کې ډیر کړاونه لیدلي هم وو، خو د خپلو قوي عزائمو او پخو ارادو له مخې د دغو ناخوالو او د هیواد د نامناسبو حالاتو په مقابل کې تسلیمي او آرام کېناستل ورته له خپلو شهیدانو ورونو سره جفاء معلومېدله. د دغو راسخ العقیده، قوي عزمه او نه ستړي کیدونکو جهادي لاروپانو له جملې څخه یو هم شهید ملا بورجان و چې د خپل پیل کړي مزل د سرته رسولو په غرض یې د طالبانو د اسلامي تحریک د مؤسس ملامحمد عمر مجاهد ننګه وکړه او په ډیر اخلاص او میړانه سره د تحریک د تأسیس له هماغه لومړي سر څخه د هغه ترڅنګ ودرېد. د ۱۹۹۴م د جولای دمیاشتې له پیل نه بیا د ۱۱۹۶د سپتمبر تر۲۷ مې،د کابل ترتصفي پورې چې د طالبانو اسلامي تحریک په پوځي اوسیاسي ډګر کې کومې لاسته راوړنې درلودلې په هغو کې یې له شکه د شهید ملابورجان د مخلصانه قربانیو، ستومانیو او صادقانه هلو ځلو ستر رول و. په ۱۹۹۴-۱۱-۵م کې چې طالبانو د کندهار ولایت مرکز ترخپلې سلطې لاندې راوست اوهلته یې د طالبانو د اسلامي تحریک په نوم عالی شورا تأسیس کړه،شهید ملابورجان د دغې شورا د عضویت ترڅنګ په اسلامي تحریک کې د ځینو پوځي امورو تنظیم او ترتیب هم په غاړه درلود. هغه په لومړي سر کې د کندهار دامنیه قومندان وټاکل شو تر هغه وروسته چې کله طالبانو د هېواد د نورو ولایاتو د تصفیي اقدامات وکړل نو د هغه لپاره د پوځي سوقاتو په انسجام او ترتیب کې هم شهید ملابورجان د حاجی معاون صاحب ملامحمدرباني او تحریک د عمومي نظامي قومندان شهید ملامحمد اخند په ملګرتیا مخکښ رول ولوباوه، طالبانو وکولای شول چې دهغه د عسکری موفقو تکتیکونو په مرسته په ډیره کمه موده کې له کندهار نه د کابل ترخنډو چاراسیاب او میدان ښار پورې ځان ورسوي.

په ۱۹۹۵-۲-۱۴م د کابل په جنوب کې د چاراسیاب په سیمه کې شهید ملا بورجان شدید زخمي شو او د معالجې لپاره کندهار ته راغی. دلته تر لږ وخت استراحت او علاج وروسته بیرته د کابل جنوب چاراسیاب ته د جګړې د لومړیو کرښو د تنظیمولو لپاره ولاړ. د ۱۹۹۵د فبروري دمیاشتي له دوهمې نیټې بیا د۱۹۹۶کال اګست تر میاشتې پورې طالبانو څو ځله کابل د نیولو کوښښ وکړ خو موفق نشول. وروسته شهید ملابورجان صاحب د طالبانو د قیادت په مشوره له ختیځ لوري د کابل دنیولو په یوه بدیل عسکري پلان کار پیل کړ.هماغه ؤ چې په ۱۹۹۶-۸-۱م کال یې د دغه نوي پوځي پلان د عملي کولو نقشه د پکتیا د اریوب او سپنې شګې له استقامت څخه پیل کړه او دسپینې شګې، حصارک، ازرې، ننګرهار ولایت، کنړ، لغمان او سروبي ولسوالي له تصفیه کولو ورسته یې په یوه میاشت او ۲۶ ورځو کې د جګړې لومړۍ کرښه د کابل ختیځې دروازې د ماهیپر سیمې ته ورسوله.

## د شهید ملا بورجان ترحم او خواخوږي:

سره له دې چې شهید ملابورجان خپل ټول عمر په پوځي چارو کې تېر کړی و او ټول سر وکار یې له جنګي امورو سره ؤ، خو له اخلاقي لحاظه بیا ډیر حلیم، نرم مزاجه او خوشطبعیته انسان و. د جهادي ژوند په صحنه کې له خپلو ملګرو سره هغه تعامل د قرآن کریم د دې مبارک ارشاد ((اشداء علی الکفار رحماء بینهم)) یو ښکاره مصداق و.

هغه به د جګړې په سختو شیبو کې د دې ډیر کوښښ کاوه چې په ناحقه د چا وینه توی نشي. د طالبانو په ټولو پوځي عملیاتو کې ده دا هېله درلوده چې د طالبانو مخالفین ونه وژل شي، هغوی ته باید داسې زمینه مساعده شي چې یا تسلیم او یا هم د طالبانو له مقابلې څخه د عقب نشینی لاره غوره کړي. په ۱۹۹۵-۱۰-۲مه کله چې طالبانو د میدان ښار او لوګر ولایتونه د خپلې ولکې لاندې راوستل د بي بي سي راډیو پښتو څانګې خبریال ملابورجان سره د طالبانو د پوځي

پرمختګونو په هکله مرکه درلوده.د مرکې په ترڅ کې خبریال له ملابورجان څخه په دي اړه هم وپوښتل چې تاسو ولي خپل ټول پوځې عملیات په ورځ کې ترسره کوئ، او شپې مهال هیڅ ستاسو کوم پوځې تحرک نه وي؟ نوموړي په ځواب کې ورته وويل چې : مونږ نه غواړو چې په غافلګيرانه توګه خپل مخالفين تر برید لاندې ونيسو ځکه په دې طريقه د هغوی مرګ ژوبله زياته راځي او مونږ نه غواړو چې هغوی ووژل شي، بلکې غواړو چې هغوی د وژلو پرته سيمې تر خپل کنترول لاندې راولو.

د تعجب خبره داده چې په وريښمين تنګي کې د ده د شهيد کېدلو پر ځای چيرته چې طالبانو له هغه سره نيژدې يو مسجد جوړ کړيدی، د کرزي اداري يوه امنيتي پوسته جوړه کړي وه، هغوی د خپل ځان د حفاظت په غرض د پوستې په ديوال لوی خط ليکلي دي: دشهيد ملا بورجان امنيتي پوسته!!!

## د شهيد ملا بورجان شهادت:

د جهاد او شهادت د سنګرونو دغه اسطوره يې شاهکار،د غيرت، شجاعت او فداکارۍ نمونه، دتقوی، صداقت او اخلاص سمبول، قهرمان يې ريا مجاهد محترم ملا امين الله (شهيد ملا بورجان) د ۱۳۷۵هجري شمسي کال د ميزان د مياشتې په پنځمه نيټه د وريښمين تنګې په سيمه کې د مخالفينو د ۸۲ ملي متري، توپ د مرمۍ په پرزو د لګېدلو له امله په شهادت ورسېد، په دې سره د خداي بخلي د(۳۸)کلن اسلامي، جهادي او ملي وياړمن ژوند د عمر بلېدونکي ډېوه خاموشه شوه. (اناالله وانا اليه راجعون).

کله چې دی په شهادت ورسېد الحاج ملا عبدالرزاق اخند چې په دغه وخت کې د شهيد ملا بورجان اخند معاون وو چې اوس مهال د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت تخنيکي او مسلکي مرستيال دی، له ملګرو وغوښتل چې د شهادت په اړه يې بايد څوک خبر نه کړو او شهادت يې بايد پټ وساتل شي ځکه چې د شهادت خبر او آوازه يې په ملګرو ښه تاثير نه کوي او د ملګرو حوصله او شجاعت به کمزوری شي، هماغه وو چې جسد مبارک يې په موټر کې يو محفوظ ځای ته انتقال کړ د جنګ مشري ملاعبدالرزاق اخند په غاړه واخيسته او سروبي فتحه شو د سروبي له فتحې وروسته کله چې جنګ د زرداد پاټک ته رسېږي الحاج ملا عبدالرزاق اخند راډيو خبرونه اوري خوشبختانه په خبرو کې هم د ملابورجان د شهادت په اړه هيڅ ونه ويل شول.

دا چې د ملافاضل آخند په مشرۍ کې د حصارک لخوا مجاهدينو جنګ شروع کړی وو ملا عبدالرزاق اخند بېرته سروبي ته ځي تر څو له ملا فاضل اخند او ځينو نورو مشرانو سره ووينې او د جنګ په هکله مشوره وکړي، ملا راکيتي او ځيني نور ملګري يې سروبي ته رارسيدلي وو خپله ملافاضل اخند دغه وخت سروبي ته نه وو رارسيدلی ملا عبدالرزاق اخند وايي:چې دغه ملګري هم د شهيد ملابورجان له شهادته خبر نه وو ځکه خو يې د هغه په هکله هيڅ ونه پوښتل.

هماغه وو چې ملا عبدالرزاق اخند ملا راکيتي او ځينو نورو ملګرو ته وويل چې زما سلام ملا فاضل اخند ته ورسوئ ، له سلام وروسته ورته ووايئ: چې سبا به زمونږ او ستاسو پروګرام دا وي چې تاسو به د پلچرخي له لارې کابل ته داخليږئ او مونږ به د کوه چار له لارې کابل ته داخلېږو کله چې کوه چار او پلچرخي ته ورسېدو بيا به د راتلونکي پلان په هکله خبره کوو، هماغه وو چې سبا ماهيپر ته ورسېدو د ماهيپر لاره ټوله له ماينونو ډکه وه، د ماينونو راويستونکي مجاهدينو هم د ملابورجان اخند په شهادت خپله حوصله له لاسه ورکړې وه او ډېر خفه ښکاريدو، ملا عبدالرزاق اخند ورته وويل چې آخرين کار کوئ وخت مه ضايع کوئ تر څو ستاسو د خفګان له امله نور ملګري حوصله له لاسه ورنکړي ملا عبدالرزاق اخند خپله د ماينونو په ويستلو شروع وکړه په دغه وخت کې جنګ هم ډېر شدت اختيار کړی وو، ملا عبدالرزاق اخند په خپلو لاسونو ډېر ماينونه وباسل او خنثی يې کړل کله چې ملګرو د ده زړه ورتيا وليده هغوی بېرته خپل

کار شروع او نور ماینونه هغوی وویشل او په دغه وخت کې یو ماین وچاوېدو خو الحمد لله ملګرو ته کوم زیان و نه رسید، مجاهدین د ماینونو په ویستلو سره مخکې روان وو تر دې چې د ماهیپر ته نږدې د یو پل لاندې مخالفینو یو بیلر له بارودو ډک ایښی وو، تر څو دغه پل په مجاهدینو پټ کړي او د مجاهدینو پرمخ لاره هم بنده شي خو الحمد لله یو مجاهد په ډېر تلوار سره د دشمن دغه پلان شنډ او خنثی کړ، او په دې سره مجاهدین پرته له کوم مشکل له دې پله تېر شول په دغه وخت کې د زابل یو تکړه او زړور مجاهد ملا رحمت الله چې د قومندان نورالله ملګری وو هم د شهادت جام نوش کړ مجاهدینو غوښتل چې مخکې لاړ شي خو دشمن د ماهیپر تونل ټول له بارودو ډک کړی وو غوښتل یې چې دغه تونل چاودنی وکړي او د مجاهدینو پر مخ لاره بنده کړي خو الحمد لله دېته یې وخت نه وو پیدا کړی چې په بارودو کې چاودېدونکي توکي ځای پر ځای کړي مجاهدینو په ډېر میړانې سره مخ پر تونل حرکت پیل کړ او له تونله بلې خوا ته ووتل که څه هم د غه وخت مجاهدینو یو ټانګ د دشمن لخوا وویشتل شو، کله چې مجاهدین له تونل ووتل له لږ حرکت وروسته یې د اوبو له چینې سره د ماسپښین لمونځ ادا کړ ، امیر المؤمنین رحمه الله هم د ملا بورجان له شهادته خبر شوی وو په دغه وخت کې محمد رباني د امیر المؤمنین رحمه الله پیغام راوړ چې له دې وروسته د ټولو مجاهدینو لکه د چهار اسیاب د خوا د مجاهدینو د میدان وردګ د خوا د مجاهدینو او د ننګرهار د خوا د مجاهدینو قومندان او مشر ملا عبدالرزاق اخند دی ټول واک او اختیار به له ده سره وي په دې سره ټول ملګري خبر شول، ملاعبدالرزاق اخند له خپلو ملګرو سره کوه چار ته ورسېد چې له دوی مخکې ملا فاضل اخند سره له ملګرو همدې ساحې ته رسیدلی وو. دا چې ټول مجاهدین ستړي وو د شپې یې لږ ارام کړی وي کله چې سهار شو، ملا عبدالرزاق اخند چې د ټولو مجاهدینو مشر وو ملا فاضل اخند ته وویل تاسو

به د محبس له لارې کابل ته داخلیږئ صدر صاحب چې د چهار اسیاب لخوا د مجاهدینو مشر وو هغه ته یې وویل چې تاسو به په سنګ نوشته جنګ راشروع کړئ او ملا مالک اخند ته یې وویل چې تاسو به د میدان ښار لخوا جنګ راشروع کړئ همغه وو چې له ټولو خواوو په کابل جنګ شروع شو او مجاهدین پر مخ روان ول دلته ځینو قومندانانو ملا عبدالرزاق اخند ته دا مشوره ورکړه چې باید نور مخکې لاړ نشو هسې نه چې مجاهدین شهیدان او زخمیان نه شي خو ملا عبدالرزاق اخند ټولو مجاهدینو ته د جنګ د دوام خبره وکړه څکه که چېرته مجاهدینو جنګ درولی وای نو دښمن له دغه فرصته فایده پورته کوله او مجاهدینو ته یې ډېر تاوان رسولی شو. بناء مجاهدینو جنګ ته ادامه ورکړه او پر مخ روان وو دلته د تلویزون پر تپې یو ټانګ ولاړ وو چې مجاهدینو ته یې ډېر زیات مزاحمت جوړ کړی وو، د مازیګر له لمانځه څخه وروسته د ملا عبدالرزاق اخند په امر د دستګاه والا په دغه ټانګ څو فایرونه وکړل او له هغه ټکانو سره د ټانګ مقاومت ختم شو کله چې کابل د ګمرک او خواجه رواش ساحې له دیخوا د مجاهدینو له خوا فتحه شوې د محبس ، چهار اسیاب او میدان ښار لخوا هم مجاهدینو ډېر پر مختګ کړی وو. د شپې شاوخوا یوه بجه وه چې دشمن د ساحو په پرېښودو شروع وکړه او زیاتره ډیپوګان ته یې چاودنه وکړه، ترڅو مجاهدین له دغو ډیپوګانو څخه استفاده ونکړي او اسلحې په لاس ورنشي، مجاهدین هم پوه شول چې دشمن په منده دی نو دوی هم له دغې موقع څخه په استفادې سره د شپې شاوخوا پر دوه (۲) بجې ارګ ته ننوتل، او په دې سره د الحاج ملا عبدالرزاق اخند په مشرۍ کې کابل فتحه او زیاتره وزارتونو ته مجاهدین ولېږل شول. الله جل جلاله دې د ټولو شهیدانو شهادتونه د مجاهدینو ستړیاوي په خپل دربار عالیه قبولې او منظوري کړي . آمین

مأخذ: سپین کاروان

زیاتونه: مفتي فیصل «خاموش»

# د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند فاریاب ولایت ته سفر وکړ




د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند چې د دې وزارت د مالي او حسابي چارو رئیس محترم مولوي محمد امین درویش، د خاصو شهیدانو آمر محترم مولوي محمد، د ډېټابېس او معلوماتو ریاست د پروژې مالي مسؤل محترم مولوي شبیر احمد خادم یې ملتیا کوله، د فاریاب ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د کاري بهیر د ارزونې تر څنګ، د دې ولایت په قیصار، شیرین تګاب، پشتون کوټ او ګرزیوان ولسوالیو کې د فدایانو کورنیو، د متعددو شهیدانو کورنیو او د هغو معلولینو سره چې د تېر شل کلن جهاد پر مهال یې د خپل بدن دوه غړي له لاسه ورکړي وو، له نږدې وکتل، د هغوی ستونزې او غوښتنې واورېدې، هغوی ته یې د خواخوږۍ او همدردۍ مراتب وړاندې کړل او ورسره یې یوه اندازه نغدي مساعدتونه هم ترسره کړې.

محترم وزیر صاحب د شهیدانو له کورنیو سره په کتنه کې وویل: په هېواد کې اسلامي نظام د مجاهدینو د سرښندنو او قربانیو په برکت منځ ته راغلی او د اسلامي امارت مسؤلین ژمن دي چې د شهیدانو کورنیو او معلولینو ته ګټور او شفاف خدمتونه وړاندې کړي.

همداراز د دې وزارت د مالي او حسابي چارو رئیس محترم مولوي محمد امین درویش د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ثبت شویو آمارو او ارقامو په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او وې ویل: دې وزارت د مرکز په ګډون په ټولو ولایتونو کې ( ۶۵۳) زره او (۲۶۵) تنه یتیمان، کونډې او معلولین ثبت او راجستر کړې دي او د فاریاب ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست ته (۳۰۰) میلیونه افغانۍ بودیجه ځانګړې شوې وه چې له هغې جملې څخه (۲۴۰) میلیونه افغانۍ د روان مالي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د یتیمانو، کونډو او معلولینو د میاشتنۍ نغدي مساعدتونو په توګه مصرف شوي دي.

نوموړي همداراز یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د میاشتنۍ نغدي مرستو د ورکړې په بهیر کې د بشپړ شفافیت ډاډ ورکړ او وې ویل: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له هر ډول تبعیض پرته د منظور شوې طرحې سره سم مستحقینو ته نغدي مرستې په مساوي ډول حواله کوي.

# د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت عمومي ریاست له پلاوي سره وکتل




د شهیدانو او معلولینو چارو سرپرست وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند د پوهنې او لوړو زده کړو په برخو کې د فرامینو او حکمونو د نظارت له رئیس محترم شیخ نورالله نوري او راغلي پلاوي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. د دې کتنې پر مهال د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان او د دې وزارت د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست هم حضور درلود.

محترم وزیر صاحب، د شهیدانو او معلولینو چارو په وزارت کې د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت په موخه د ګمارل شوې کمېټې له لوري ترسره شوې چارې ښې وارزولې او زیاته یې کړه: په هېواد کې اسلامي نظام د مجاهدینو په قربانیو رامنځته شوی او باید د دې ستر نعمت شکر اداء کړو او د عالیقدر مشرتابه د فرمانونو او احکامو په تطبیق کیدو سره په نظام کې پیاوړتیا او ثبات رامنځته کیږي.

همداراز په دې کتنه کې محترم شیخ نورالله نوري د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت د عمومي ریاست رامنځته کیدو اساسي موخه په هېواد کې د خلکو ستونزو ته پر وخت رسیدګي او په امارتي ادارو کې د شفافیت او اصلاحاتو راوستل یاد کړل او وې ویل: زموږ د ناستې موخه هم په ادارو کې د روڼتیا او اړینو اصلاحاتو د رامنځته کولو په موخه د دې ریاست له لوري د ټاکل شوې کمېټې د کړنو ارزونه او د کاري بهیر د ښه والي په موخه د سلا او مشورو ترسره کول دي.

په دې کتنه کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان هم د امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د حکمونو او فرمانونو د څارنې په موخه د عمومي ریاست رامنځته کول په امارتي اداراتو کې د اصلاحاتو او شفافیت په رامنځته کولو کې یو مهم ګام وباله او د مؤظف شوې کمېټې سره یې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ.

# محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزیر امور شهداء و معلولین و هیئت همراه اش به ولایت سرپل سفر نمود

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزیر امور شهداءف و معلولین طی این سفر با محترم الحاج مولوی محمد ظریف مظفر والی ولایت سرپل ملاقات نمود، در این ملاقات محترم الحاج محمد نادر حقجو معاون والی، محترم الحاج مولوی روزالدین مسعود رئیس امر بالمعروف، محترم الحاج مولوی عبدالبصیر قوماندان امنیه، محترم الحاج مفتی محمد مقتصد قوماندان لواء و همچنان محترم الحاج مولوي نورالحق ولسوال ولسوالی کوهستانات آن ولایت نیز حضور داشتند.

طی این ملاقات محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند گفت: حمایت و رسیدگی به مشکلات خانواده های شهداء تنها مسؤلیت نزدیکان، دوستان و همچنان ریاست امور شهداء و معلولین نمی باشد، بلکه وظیفه و مسؤلیت مشترک همه ماست تا از آنها حمایت همه جانبه نموده و به مشکلات آنها رسیدگی کامل نماییم.

محترم وزیر صاحب اضافه نمود: در افغانستان بیش از (۶۵۰) هزار تن یتیم، معلول و بیوه ثبت گردیده و بودجه‌ای تخصیص یافته از سوی رهبری امارت اسلامی برای این وزارت، (۱۲) میلیارد افغانی است که در شش ماه نخست سال روان حدود (۷) میلیارد آن برای خانواده‌های شهدا و افراد دارای معلولیت به عنوان مساعدت های نقدی ماهانه پرداخت گردیده است.

موصوف همچنان از فراهم نمودن زمینهٔ آموزش های فنی و حرفوی به ایتام و معلولین یادآوری نموده افزود: ما در تلاش این هستیم تا منظور ایجاد سهولت ها، رفاه و آسایش بیشتر در زندگی به ایتام و معلولین شهرک های مسکونی بسازیم.

در عین حال محترم الحاج مولوی ظریف مظفر والی ولایت سرپل در راستای رسیدگی به مشکلات و چالش های ریاست امور شهداء و معلولین آن ولایت اطمینان دادند.

طی این ملاقات محترم مولوی امین درویش رئیس امور مالی و حسابی پیرامون آمار و ارقام ثبت شده ایتام، خانم های بیوه و معلولین معلومات ارایه نمود، وی همچنان از موجودیت شفافیت کامل در پروسه ثبت آنها اطمینان کامل داده گفت: در این وزارت تا اکنون ۲۸۰۰۰ تن غیر مستحق ایتام، خانم های بیوه و معلولین را که مطابق طرح منظور شده وزارت امور شهدا و معلولین نبودند از سیستم حذف گردیده اند.

همچنان محترم سیف الرحمن ابوطلحه رئیس امور شهداء و معلولین ولایت سرپل نیز طی صحبت های خویش اضافه نمود از آغاز سال روان خورشیدی تا اکنون نزدیک به (۲۵۰۰) تن آنان مساعدت های نقدی ماهانه پرداخت گردیده است.

در این سفر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند را که محترم مولوی محمد امین درویش رئیس امور مالی و حسابی، محترم مولوی محمد آمر شهدای خاص، محترم مولوی شبیر احمد مسؤل مالی پروژهٔ ریاست دیتابیس و معلومات این وزارت همراهی می نمود، محترم وزیر صاحب ضمن جویای احوال خانواده های فدایان، خانواده های شهدای متعدد و آنعده معلولین که در جریان جهاد بیست ساله علیه اشغال دو عضو بدن خویش را از دست داده بود، با آنان مساعدت های نقدی نیز توزیع نمودند.

هدف اصلی سفر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند به ولایات سرپل، بلخ، جوزجان، سمنگان، بغلان و فاریاب بررسی از روند کاری ریاست امور شهدا و معلولین آن ولایت، جویای احوال وضعیت ورثهٔ شهداء و معلولین، استماع مشکلات و خواست های آنان و همچنان توزیع مساعدت های نقدی به ورثه شهداء و معلولین عنوان شده است.

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په انګړ کې د یو محراب جومات پرانیسته وشوه





یاد جومات د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د وړاندیز په اساس او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی د منظورۍ سره سم د ارشاد، حج او اوقافو وزارت له بودیجې څخه په دوه پوړونو کې په پاخه او اساسي ډول د (۱۱) میلیونه، (۲۲۶) زره او (۳۴۲) افغانیو په مجموعي لګښت د ارشاد، حج او اوقافو وزیر محترم شیخ الحدیث دوکتور نور محمد ثاقب له لوري د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند، د شهیدانو او معلولینو چارو مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د اړوند څانګو رئیسانو او د وزارت کارکوونکو په حضور کې رسماً پرانیستل شو.

د دې جومات د پرانیستې په مراسمو کې محترم شیخ الحدیث دوکتور نورمحمد ثاقب د قرآن عظیم الشان د آیتونو او د نبوي صلی الله علیه وسلم د احادیثو په بیانولو سره د جوماتونو د جوړولو او خدمت کولو د اهمیت او لوړ مقام په اړه مفصله وینا وکړه او زیاته یې کړه: واقعي او رښتینی مسلمان هغه څوک دی چې جوماتونه جوړوي او د هغو خدمت کوي، له نیکه مرغه نن سبا د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د زیاتو جوماتونو د جوړېدو

چارې رواني دي خو لازمه ده چې د جوماتونو په ظاهري بڼه اکتفا و نکړو، بلکې په جماعت سره د الهي عبادت پابندي ضروري او لازمي ده.
د دې مراسمو په ترڅ کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د جومات د جوړېدو په برخه کې د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د رهبرۍ له هڅو مننه وکړه او وې ویل: د دې جومات په جوړېدو سره به د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو او مراجعینو ستونزې حل شي، اوس کولای شي په دغه ځای کې هم عبادت وکړي او هم د قرانکریم د تلاوت جلسې ترسره کړي.
محترم شیخ صاحب د جوماتونو او دیني مدرسو د جوړولو لپاره هڅې د ټولنې د هر وګړي مسؤلیت او دنده وګڼله، په دې برخه کې یې د علمای کرامو رول مهم وباله او ټینګار یې وکړ چې هر مسلمان باید د خپل توان په اندازه د دیني مدرسو د جوړولو او پیاوړتیا لپاره هڅې وکړي.
د یاد وزارت د مالي او اداري عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان هم په دې مراسمو کې وویل چې د اسلامي امارت رهبري د ملي بودیجې څخه په استفادې په هېواد کې لوی عمراني پروژې په لاره اچولې دي او دا کړنه د هېواد د ابادۍ او پرمختګ لپاره د اسلامي امارت د مشرتابه اخلاص او پوره ژمنتیا څرګندوي او په کار ده چې د دې لوی نعمت شکر اداء کړو.
نوموړي همداراز د ارشاد، حج او اوقافو له وزیر څخه وغوښتل، چې د تېرو کلونو په پرتله د حج په مراسمو کې سږ کال د معلولینو او یتیمانو لپاره زیاته سهمیه په پام کې ونیسي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود وویل: په هېواد کې د اسلامي نظام خدمت او هر اړخیز ملاتړ د ټولنې د هر وګړی وظیفه او دنده ده. له سختو ستړیاوو او هلو ځلو وروسته الله تعالی جل جلاله افغانانو ته دا نظام ورکړ او زموږ باید د دې ستر نعمت شکر ادا کړو او په دې برخه کې باید ټول په ګډه او همغږۍ سره د اسلامي نظام د لا پیاوړتیا او پرمختګ لپاره ګامونه پورته کړو او په هېواد کې د نظام د پرمختګ لپاره هلې ځلې وکړو.
هغه همداراز زیاته کړه: د جوماتونو معنوي آبادي د خدای تعالی په ذکر او عبادت سره حاصلیږي د تاریـخ په اوږدو کې دا جوماتونه د افتاء، قضاء، خیرخواهي، جهاد او د هر هغه عمل ځای وو، چې د مسلمانانو په ګټه وو، او د دې جومات جوړول یې د اسلامي امارت د مشرانو یو لوی او عظیم احسان یاد کړ.





# محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزیر امور شهداء و معلولین به ولایت جوزجان سفر نمود

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزیر امور شهداء و معلولین به منظور بررسی از روند کاری و چگونگی ارایه خدمات به ورثهٔ شهدا و معلولین به ولایت جوزجان سفر نموده است، موصوف طی این سفر ضمن بررسی از روند کاری ریاست امور شهدا و معلولین ولایت جوزجان با برخی خانواده های فدایان در آن ولایت ملاقات نموده مشکلات و چالش های فرا راه آنها را استماع و ضمن ابراز همدری با خانواده ها و اتحاف دعا به روح شهدا با خانواده های متذکره مساعدت های نقدی انجام دادند.

محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند در دیدار با کارمندان و مسؤلین ریاست امور شهدا و معلولین ولایت جوزجان هدف اصلی سفر خویش را به آن ولایت بررسی از اجراآت کاری و فعالیت های آن ریاست عنوان نموده گفت: یکی از اهداف اصلی سفر ما به این ولایت دیدار با خانواده های شهدا و معلولین است تا مشکلات آنها را از نزدیک مشاهده نموده و به خواست ها و مشکلات آنها رسیدگی کامل نماییم.

همچنان محترم وزیر صاحب در دیدار با خانواده های شهداء و معلولین از رسیدگی به خواست ها و مشکلات آنها اطمینان داده گفت: نظام امارت اسلامی با فداکاری های مجاهدین و همکاری مردم به میان آمده و مسؤلین امارت اسلامی می کوشد تا به مشکلات و خواست های مردم رسیدگی کامل صورت گیرد.

موصوف همچنان به مسؤلین آن ریاست به منظور ارایه خدمات بهتر به ورثهٔ شهداء و معلولین هدایات لازم ارایه نمودند.

همچنان محترم مولوی شبیر احمد رئیس امور شهداء و معلولین ولایت جوزجان ضمن ارایه گزارش از کارکرد و فعالیت های آن ریاست، از رسیدگی به مشکلات و خواست های خانواده های شهداء و معلولین اطمینان کامل دادند.

در عین حال برخی خانواده های شهداء و افراد دارای معلولیت نیز از توجه خاص امارت اسلامی اظهار امتنان نمودند.

# د کابل ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست لپاره نوې ودانۍ تر بیارغونې وروسته د محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند لخوا د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانیستل شوه




د دې ودانۍ د پرانیستې په مراسمو کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزیر محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند، د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند، د شهیدانو او معلولینو چارو مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان او د دې وزارت د اړوندو څانګو رئیسانو ګډون کړی وو.

د کابل ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست لپاره نوې ځانګړې شوې ودانۍ چې په تېرو څو لسیزو کې ویجاړه پرته او ورڅخه ګټه نه اخیستل کېده چې د اسلامي امارت د واکمنېدو څخه وروسته د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له لوري د یادې ودانۍ ټولې برخې ورغول شوې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه چې له دې وروسته به د یاد ریاست کارکوونکو او مراجعینو پر وړاندې شته ستونزې او ننګونې هوارې او هغوی ته به لا زیاتې اسانتیاوې برابرې شي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند، په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له مرستیال سره وکتل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند، په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) له مرستیال هرالډ میناردټ سره په خپل کاري دفتر کې وکتل، په دې کتنه کې د وزارت د مقام د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، د بهرنیو اړیکو او پلان رئیس محترم ملا صدوخان حق شناس، په افغانستان کې د خوړو نړیوال پروګرام ارتباطي مسؤل محترم حمیدالله افغان او د خوړو نړیوال پروګرام

د اضطراري برخې مسؤل محترم خالد نورزاد هم حضور درلود.
په پېل کې محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د يتيمانو، کونډو او معلولينو په وړاندې پرتو ستونزو او ننګونو ته اشاره وکړه او وېې ويل: په دې هېواد کې د نورو هېوادونو په پرتله ډېرى خلک بشري مرستو ته اړتيا لري او د دې لامل دا دې چې په تېرو څو لسيزو کې افغانانو ملت ته د خدمت کولو او د هېواد د خپلواکۍ په لاره کې ډېرې قرباني ورکړې دي او نن ورځ هغوى له مالي اړخه کمزوري پاتې دي او په کار ده چې هغوى ته د مرستو رسولو زمينه برابره او په سمه توګه د هغوى لاسنيوى وشي.
د مسلکي او تخنيکي چارو مرستيال په اسلامي امارت کې د ښځينه ؤ حقوقو ته د ځانګړې پاملرنې يادونه وکړه او زياته يې کړه: د اسلامي امارت د رامنځته کېدو يوه اساسي موخه هم له شرعي او انساني اړخه د ښځينو د حقوقو څخه دفاع او د هغوى د عزت او شرافت ساتل وو، او کومې ناروا کړنې او ظلمونه چې د ښځو په وړاندې کېدل، د هغو ظلمونو څخه ښځو ته نجات ورکړل شو.
محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د خوړو نړېوال پروګرام له مرستو څخه مننه وکړه او وېې ويل: د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت په هېواد کې له شپږ لکه څخه زياتو يتيمانو، کونډو او معلولينو ته مياشتنۍ نغدي مرستې ورکوي، او دا به غوره وي چې د خوړو نړېوال پروګرام له دې وزارت سره په همغږۍ يادو کسانو ته چې د ټولنې تر ټولو اړمن قشر دې هغوى ته لومړيتوب ورکړي او په دې ډول به د هغوى پر وړاندې شته ستونزې له منځه يوړل شي او مرستې به واقعي مستحقينو ته ورکړل شي.
په دې کتنه کې په افغانستان کې د خوړو نړيوال پروګرام (WFP) مرستيال هرالډ ميناردت د دې پروګرام د موخو، فعاليتونو او لاسته راوړنو په هکله هر اړخيز معلومات وړاندې کړل او زياته يې کړه: د خوړو د نړېوال پروګرام يواځينۍ او اساسي موخه دا ده چې د نړۍ په سطحه آسيب پذيره او اړمنو خلکو ته په اضطراري حالاتو کې بشري مرستې ورسوي او د هغوى لپاره غذايي امنيت او مصؤنيت رامنځته کړي.
هغه همداراز وويل: د خوړو نړيوال پروګرام په پام کې لري چې په روان کال کې به شپږ ميليونه کسانو ته د دوبي په موسم کې او يوولس ميليونه نورو اړمنو خلکو ته د ژمي په موسم کې بشري مرستې چمتو کړي نوموړي زياته کړه: ياد پروګرام معلولينو او بې سرپرسته کورنيو ته د مرستو په رسولو کې لومړيتوب ورکوي او د دې وزارت سره په همغږۍ کې په مستحقو يتيمانو، کونډو او معلولينو ته د مرستو په رسولو کې پوره پاملرنه وشي.
د دې کتنې پر مهال د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د مقام د دفتر رئيس محترم مولوي شاه محمد دوست يتيمانو، کونډو او معلولينو ته په ښه او شفافه توګه د مرستو د رسولو پر څرنګوالي خبرې وکړې او زياته يې کړه: په هېواد کې د اسلامي امارت په راتګ سره دې وزارت پرته له هر ډول تبعيض څخه د يوې شفافې پروسې په ترڅ کې د اسلامي امارت، د تېرې ادارې وژل شوي نظاميان او ملکي يتيمان، کونډې او معلولين ثبت کړې دي. هغه د خوړو نړېوال پروګرام له مسؤلينو څخه وغوښتل ترڅو خپلې مرستې د دې وزارت سره په همغږۍ ترسره کړي.
همداراز د دې وزارت د بهرنېو اړيکو او پلان رئيس محترم ملا صدوخان حق شناس د يتيمانو او معلولينو د اقتصادي ځان بساينې په برخه کې د حرفوي پروګرامونو د دايرولو په اهميت خبرې وکړې او د خوړو نړېوال پروګرام له مسؤلينو يې وغوښتل تر څو په ياده برخه کې هم د دې وزارت سره همکاري وکړي.

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د فدایانو او متعدد مجردو شهیدانو کورنیو د لیدو او پوښتنې په موخه هلمند ولایت ته سفر وکړ

محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د دې سفر په ترڅ کې د هلمند ولایت په ګرشک، نهرسراج، باباجي، واشېر، نوزاد، مارجه، ناوه، ګرمسېر، خانشین او نادعلي ولسوالیو کې د یو شمېر فدایانو او متعدد مجردو شهیدانو کورنیو سره له نږدې وکتل، د شهیدانو پاک روح ته یې دعا وکړه، د هغوی کورنیو ته یې د ډاډ ګېرنې او خواخوږۍ مراتب وړاندې کړل او ورسره یې یو اندازه نغدي مرستې هم ترسره کړې.

محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د فدایانو او د متعدد مجردو شهیدانو کورنیو سره په کتنه کې وویل: تاسو د اسلامي نظام د راتلو لپاره قرباني ورکړي دي، اوس د خپل نظام مشرانو ته دعاوې وکړئ ترڅو د اسلامي نظام په پیاوړتیا سره د تللو شهیدانو او د افغان مجاهد ولس ارمانونه پوره شي.

هغه همداراز یادو کورنېو ته ډاډ ورکړ: د اسلامي امارت مشرانو تاسو هېر کړي نه یاست، د شهیدانو ورثه ؤ او معلولینو ته د ښو خدمتونو وړاندې کولو په موخه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت رامنځته شوی، د اسلامي امارت مشران او په ځانګړي توګه عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی تل دا توصیې کوي چې د شهیدانو کورنیو او معلولینو پوښتنې کوئ او له هغوی سره همکاري وکړئ.

محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د هلمند ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د کاري بهیر څخه یې لیدنه وکړه، د اداري چارو ارزوني ترڅنګ یې د یاد ریاست د کارکوونکو ستونزې او غوښتنې واورېدې او په یو شمېر برخو کې یې د چارو د لا ښه سمون په موخه لازمې لارښوونې وکړې.

د یادونې وړ ده چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال تر دې وړاندې په هرات او بادغیس ولایتونو کې د فدایانو او متعدد مجردو شهیدانو کورنیو پوښتنې او لیدو ته هم ورغلی وو، او هغوی سره یې یو اندازه نغدي مرستې ترسره کړې وې.





# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند په کابل کې د قطر سفارت له مستشار سره وکتل

د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند په کابل کې د قطر سفارت له مستشار محترم مردف علي القاشوطي سره په خپل کاري دفتر کې وکتل. د دې کتنې پر مهال د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د مقام د دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش او د پلان، پالیسۍ او بهرنیو اړیکو رئیس محترم ملا صدوخان حق شناس هم حضور درلود.

په پیل کې محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د دې وزارت له لوري یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کولو پر څرنګوالي خبرې وکړې او زیاته یې کړه: زموږ هېواد د تېرې جګړې له امله له ګڼو ستونزو سره مخ شوی دی، چې د بېلګې په توګه، د یوه کورنۍ څخه ۳۶ تنه یتیمان او ۸ تنه کونډې هم د دې وزارت سره ثبت شوي دي، نو اړینه ده چې د ټولنې له دې اړمن قشر څخه په بشپړه توګه ملاتړ وشي.

هغه همداراز زیاته کړه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت ټولو ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د منظورې شوې بودیجې څخه د بانکي سیستم له لارې میاشتنې نغدي مساعدتونو حواله کوي.

په ورته وخت کې په کابل کې د قطر سفارت مستشار هم ژمنه وکړه چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو ثبت شوي آمار او ارقام به د قطر هېواد د سرې میاشتې سره شریک کړي تر څو دې اړمن قشر ته په بېلابېلو برخو کې لا زیاتې مرستې چمتو او د هغوی لاسنیوی وشي.

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق اخند د یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره د لا زیاتو مرستو د راجلبولو په موخه د ملي او نړیوالو مؤسساتو له مسؤلینو سره غونډه ترسره کړه

د شهیدانو او معلولینو وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق اخند د اقتصاد وزارت په عمومي تالار کې د ملي او نړیوالو مؤسساتو له استازو او مسؤلینو سره غونډه ترسره کړه.

په دې غونډه کې د اقتصاد وزارت د مالي او اداري چارو مرستیال محترم مولوي محمد عالم جمیل، د غیر دولتي مؤسساتو د فعالیتونو د انسجام رئیس

محترم عبدالسلام اشرفي، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د پلان، پالیسۍ او بهرنیو اړیکو رئیس محترم مولوي صدوخان حق شناس، د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم رئیس محترم مولوي ثناء الله فرقاني او د ډېټابېس او معلوماتو رئیس محترم مولوي باقي بالله فضلي حضور درلود.

په دې غونډه کې د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق اخند د یتیمانو، کونډو او معلولینو پر وړاندې د پرتو ستونزو او ننګونو په هکله خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د تېرو څلورو لسیزو پرمهال په هېواد کې د بېلابېلو ناخوالو او بحرانونو په پایله کې زموږ ډېری شمېر هېوادوال یتیمان، کونډې او معلول شوي او زموږ او ستاسو مرستو ته اړتیا لري.

محترم ملا عبدالرزاق آخند له ټولو ملي او نړیوالو مؤسسو څخه وغوښتل چې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره په همغږۍ له دې ځوریدلي او اغیزمن قشر سره همکاري وکړي.

په دې غونډه کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي د دې وزارت د لاسته راوړنو، فعالیتونو او همدا راز پر یتیمانو، کونډو او معلولینو باندې د نغدي او غیر نغدي مرستو د وېش په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل.

دغه راز د دې وزارت د ډېټابېس او معلوماتو رئیس محترم مولوي باقي بالله فضلي په تېرو درېیو کلونو کې د یاد ریاست د لاسته راوړنو د بیانولو ترڅنګ د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ثبت په پروسه کې د شفافیت رامنځ ته کولو په موخه د نوي الکټرونیکي سیستم فعالولو په هکله هم معلومات وړاندې کړل.

همداراز په دې غونډه کې د بهرنیو اړیکو او پلان رئیس محترم مولوي صدوخان حق شناس هم د مؤسساتو څخه یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د مرستو د راجلبولو پر څرنګوالي او همداراز د هغوی د عمده اړتیاوو او ستونزو لېستونه د مؤسساتو له استازو سره شریک کړل.

په دې غونډه کې پرېکړه وشوه، هغه مؤسسې چې یتیمانو، کونډو او معلولینو ته خدمتونه وړاندې کوي، مکلف دي چې له دې وروسته د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د خپلې سکتوري ادارې په توګه غوره کړي او هغه پروژې چې د یتیمانو او معلولینو په برخه کې په لاره اچول کېږي باید د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت سره په همغږۍ ترسره شي.

او دا وزارت مکلف دی چې د روغتیایي پروژو د تطبیق په برخه کې د عامې روغتیا له وزارت سره او د فني او حرفوي زده کړو په برخه کې د کار او ټولنیزو چارو له وزارت سره همغږي وکړي.

په دې غونډه کې دا پرېکړه هم وشوه چې د نورو پروژو په پرتله دې د پرمختیایي پروژو تطبیق ته لومړیتوب ورکړل شي.



# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د چارو اداري عمومي ریاست د څارنې او ارزونې رئیس سره په خپل کاري دفتر کې وکتل



د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند د چارو اداري عمومي ریاست د څارنې او ارزونې له رئیس محترم شیخ محمد طاوس طارق سره وکتل. د دې کتنې پر مهال د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم رئیس او د بهرنیو اړیکو او پلان ریاست وارسي کوونکي محترم مولوي ثناء الله فرقاني او همدراز د چارو اداري عمومي ریاست د څارنې او ارزونې مرستیال حضور درلود. په پیل کې د دې وزارت د مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند خبرې وکړې او زیاته یې کړه: مجاهدینو په هېواد کې د اسلامي نظام د پیاوړتیا او ټینګښت لپاره بې شمېره قربانۍ ورکړې دي او د هغوی د سرښندنو او قربانیو په برکت په هېواد کې اسلامي نظام حاکم شوی او موږ په دې خوشحاله یو چې په ګډه د شهیدانو کورنیو، معلولینو او خپلو هېوادوالو ته په خدمت کولو بوخت یو. همداراز په دې کتنه کې د چارو د اداري د عمومي ریاست د څارنې او ارزونې رئیس محترم شیخ محمد طاوس طارق د بېلابېلو وزارتونو او اداراتو د کلني پلانونو د تطبیق او په ربعوار ډول د هغو د راپور ورکولو د څرنګوالي په اړه هر اړخیز معلومات وړاندې کړل او وې ویل: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت تېر کال په دې وتوانېد چې د جوړ شوي پلان ۷۸ سلنه برخه په بریالیتوب سره پلي کړي. نوموړي همداراز د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی سره د دې وزارت اړوند فعالیتونو او لاسته راوړنو د پر وخت شریکولو ډاډ ورکړ. ورپسې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي هم خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د دې وزارت د کړنو او فعالیتونو په دقیق ډول د راپور د ترتیبولو په موخه، یوه کمېټه جوړه شوې او دغه کمېټه له هر اړخیزې بررسي او غور وروسته د دې وزارت د کړنو او فعالیتونو راپور په ربعوار او منظم ډول چمتو او د چارو د اداري عمومي ریاست سره شریکوي. نوموړي همدا راز د چارو اداري د عمومي ریاست د څارنې او ارزونې له رئیس څخه وغوښتل، چې د بېلابېلو وزارتونو او اداراتو ترمنځ د لا زیاتي همغږۍ او اسانتیاوو رامنځته کولو په موخه غونډې جوړې کړي تر څو د پلانونو او راپورونو ترتیبولو په برخه کې شته ستونزو ته په بشپړه توګه د حل لار وموندل شي.

# یکصدو بیست و پنج (۱۲۵) تن ایتام و معلولین بعد از تکمیل دورۀ آموزش های حرفوی از مرکز حمایوی ورثۀ شهداء و معلولین فارغ گردیدند




وزارت امور شهداء ومعلولین قبلاً برنامۀ پنج ماهۀ آموزش های فنی و حرفوی را در بخش های خیاطی، ترمیم کمپیوتر، ترمیم وسایل برقی، موبایل، جنراتور، یخچال، موتر و موترسایکل به ایتام و افراد دارای معلولیت راه اندازی نموده بود که بعد از اکمال آن، طی مراسمی برای فارغان این برنامه، از سوی محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزیر امور شهداء و معلولین تصدیقنامه ها اعطا گردید.

در برنامۀ که به همین منظور در وزارت امور شهدا و معلولین تدویر یافته بود، در آن محترم الحاج ملا عبدالمجید آخند سرپرست وزیر امور شهدا و معلولین، محترم الحاج ملا عبدالرزاق اخند معین امور مسلکی و تخنیکی، محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی معین امور شهداء و معلولین، محترم حمدالله فطرت معاون سخنگوی امارت اسلامی، محترم مولوی کلیم الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری، محترم قاری عبیدالله فیصل مسؤل مؤسسه (HHRD) برخی رؤسا و آمرین بخش های مربوطه این وزارت اشتراک ورزیده بودند.

در این برنامه محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی معین وزارت امور شهداء و معلولین راه اندازی برنامه های آموزش فنی و حرفوی را در راستای خودکفایی اقتصادی ایتام و معلولین مهم عنوان نموده افزود: رهبری وزارت امور شهدا و معلولین تلاش می ورزند تا در همکاری و هماهنگی با مؤسسات و نهادهای خیریه کمک رسان در ولایات دیگر کشور نیز همچون پروگرام ها را راه اندازی نمایند که با


راه اندازی آن از یکسو منابع دوامدار عایداتی برای ایتام و معلولین فراهم شده و از سوی دیگر آنان رزق و روزی حلال برای خانواده های شان کسب خواهند نمود.
محترم شیخ صاحب همچنان از تلاش مسؤلین مؤسسه تمویل کنندۀ برنامه های آموزش های فنی و حرفوی اظهار قدردانی نموده و از شاگردان فارغ شده خواست تا از مهارت های که طی این برنامه فرا گرفته اند از آن در قسمت کسب رزق حلال استفاده نموده و همچنان به آنان توصیه نمود تا صورت و سیرت خویش را مطابق شریعت اسلامی برابر نمایند.
در این برنامه محترم مولوی کلیم الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری وزارت نیز در رابطه به اهمیت و ارزش برنامه های فنی و حرفوی صحبت نموده و آنرا در راستای ایجاد تغییرات مثبت در وضعیت اقتصادی ایتام و معلولین مهم عنوان نمود.
موصوف همچنان پیرامون ارقام ثبت شده ایتام، خانم های بیوه و معلولین، ایجاد کمیته های تصفیه به منظور شفافیت در پروسه ثبت و راجستر ایتام و معلولین و فراهم نمودن دفاتر اداری برای ریاست های مربوطه این وزارت در مرکز و ولایات معلومات همه جانبه ارایه نمودند.
محترم مولوی کلیم الله افغان همچنان اضافه نمود: وزارت محترم مالیه در سال روان مالی با در نظر داشت نیازمندی های وزارت امور شهدا و معلولین دوازده (۱۲) میلیارد افغانی را به این وزارت اختصاص داده و این وزارت تا اکنون توانسته است، که بر اساس یک پروسیجر مشخص بخشی از بودجه را به عنوان مساعدت های نقدی ماهانه از طریق سیستم بانکی به ایتام، خانم های بیوه و معلولین توزیع نمایند.
طی این برنامه محترم ملا رحمت الله خالد رئیس مرکز حمایوی ورثۀ شهدا و معلولین نیز در رابطه به فعالیت های این مرکز معلومات ارایه نموده افزود: در این مرکز به (۱۲۵) تن ایتام و معلولین که به مدت پنج ماه مصروف آموزش های حرفوی بودند، ضمن آموزش در هفت بخش مختلف، مساعدت های نقدی و مواد خوراکی نیز به شکل ماهانه به آنان نیز توزیع میگردید.
وی همچنان اضافه نمود: مسؤلین این مرکز در نظر دارد که تعداد حرفه ها و همچنان جذب شاگردان را افزایش دهند.
طی این برنامه محترم قاري عبیدالله فیصل مسؤل مؤسسه تمویل کننده پروگرام های فنی و حرفوی در رابطه به فعالیت های مؤسسه معلومات مفصل ارایه نموده گفت: خوشبختانه مؤسسه HHRD کفالت ۲۶۰۰ تن یتیم را در سرتاسر کشور بعهده دارد که به آنها در هماهنگی وزارت امور شهدا و معلولین مساعدت های نقدی و مواد خوراکی توزیع می گردد.
موصوف همچنان اضافه نمود: مؤسسه متذکره در سال گذشته به ۴۰۰ تن زمینۀ آموزش های فنی و حرفوی را فراهم نموده بود و قرار است در سال روان نیز به ۵۲۵ تن زمینۀ آموزش های حرفوی فراهم گردد.
در تداوم این برنامه محترم مفتی فیصل خاموش رئیس اطلاعات و ارتباط عامه وزارت نیز در رابطه به آمار و ارقام ثبت شده ایتام، خانم های بیوه و معلولین در این وزارت معلومات همه جانبه ارایه نموده و به فارغان آموزش های فنی و حرفوی آرزوی مؤفقیت نمود.
همچنان در این برنامه محترم مفتی عبدالاحد مسعود رئیس دعوت و ارشاد نیز به شاگردان توصیه نمود تا از اوامر و دستورات بزرگان خویش اطاعت نموده، صورت و سیرت خویش را مطابق شریعت اسلامی آراسته نمایند.
قابل ذکر است که در اخیر برنامه برای فارغان یاد شده به منظور پیشبرد حرفه هایشان بسته های وسایل تخنیکی و ابزار حرفۀ مرتبط نیز توزیع گردید.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني خوست ولایت ته یې د سفر په ترڅ کې د شهیدانو ورثه وو او یتیمانو سره له نږدې وکتل او هغوی ته یې ډاډ ورکړ چې ستونزو ته یې به پر وخت رسیدګي وشي.

په هغه غونډه کې چې د خوست ولایت مقام د غونډو په عمومي تالار کې جوړه شوې وه، په هغه کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د دې ولایت والي محترم مولوي عبدالقیوم روحاني، د خوست ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم احسان، د پکتیا ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو رئیس محترم مولوي محمد نبي او ځینو نورو مسؤلینو او همدارز یتیمانو حضور درلود.

په دې غونډه کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کول او وخت پر وخت د هغوی پوښتنه او ستونزو ته یې په بشپړه توګه رسیدګي د اسلامي امارت له مسؤلیتونو څخه وبلل او زیاته یې کړه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت په خوست ولایت کې د روان کال په تېرو شپږو میاشتو کې (۱۷۵) میلیونه افغانۍ د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته د میاشتنۍ نغدي مرستو په توګه وېشلي دي او د دې وزارت رهبري هڅه کوي چې د دوی لپاره د ژوند په ټولو برخو کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي او هر وخت د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت او د اړوند ریاستونو دروازې د هغوی پر مخ خلاصې وي.

محترم شیخ صاحب همدارز د شهیدانو ورثه وو له وکیلانو څخه یې وغوښتل تر څو د یتیمانو د پالنې او روزنې په برخه کې پوره پاملرنه ولري او هغه میاشتنۍ نغدي مساعدتونه چې د هغوی لپاره ځانګړي شوې هغه په پوره امانتدارۍ ورته ورسوي.



## معین وزارت امور شهداء و معلولین محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی به ولایت بدخشان سفر نمود



محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی، معین وزارت امور شهداء و معلولین را که محترم مولوی احسان الله حقانی رئیس تفتیش داخلی این وزارت همراهی می نمود، طی سفر به ولایت بدخشان، به برخی معلولین که در بیست سال گذشته دو و یا بیشتر از دو عضو بدن خویش را از دست داده بودند، کمک نقدی انجام دادند.

محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی هدف اصلی سفر خویش را به ولایت بدخشان توزیع مساعدت نقدی به معلولین که طی بیست سال جهاد در مقابل اشغال دو یا بیشتر از دو عضو بدن خویش را از دست داده اند، عنوان نمودند.

وی همچنان از قربانی های بیشمار مردم افغانستان و به خصوص مردم بدخشان در مقابل اشغال بیست ساله نیز یادآوری نمود.

محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقانی از ارایه خدمات یکسان و به موقع به ایتام، خانم های بیوه و معلولین در تمامی ولایت کشور نیز تذکر بعمل آوردند.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني تخار ولایت ته د سفر په ترځ کې د یو شمېر معلولینو سره نغدي مرسته ترسره کړه

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني چې د دې وزارت د داخلي تفتیش رئیس محترم مولوي احسان الله حقاني یې ملتیا کوله، تخار ولایت ته یې د سفر په ترځ کې د یو شمېر معلولینو سره نغدي مرستې ترسره کړې.

محترم شیخ صاحب تخار ولایت ته د سفر اصلي موخه د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله له لوري هغو معلولینو ته چې د تېر شل کلن اشغال په مقابل کې د خپل بدن دوه یا له دوو څخه زیات غړي له

لاسه ورکړي، د ځانګړې شوې مرستې وېش او د دې وزارت د اړوند ریاست څخه لیدنه او ارزونه یاده کړه.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال د معلولینو سره د مرستو د وېش پر مهال خبرې وکړې او زیاته یې کړه: لکه څرنګه چې معلولینو د اشغال په مقابل کې بې شمېره قرباني ورکړې دي، هغه مرستې چې اسلامي امارت یې د یادو کسانو سره کوي د اهل خیر اشخاصو څخه هم زموږ هیله ده چې د دوی لاسنیوی وکړي.
هغه همداراز یتیمانو، کونډو او معلولینو ته ډاډ ورکړ، هغه بودیجه چې د دوی لپاره ځانګړې هغه به په پوره شفافیت د بانکي سیستم له لارې دوی ته ورسول شي او له مسؤلینو څخه یې وغوښتل تر څو خپل مسؤلیتونه په پوره ایمانداری او اخلاص ترسره کړي.

## د شـــهیدانو او معلولینـــو چـــارو وزارت مرســـتیال محـــترم شـــیخ صاحـــب عبدالحکیـــم حقـــاني د ترکیـــې هېـــواد د نـــداء الخیـــر مؤسســـې لـــه مـــشر او راغـــلي پـــلاوي سره وکتـــل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د ترکیې هېواد د نداء الخیر مؤسسې له مشر محترم حمزه کوکسال سره په خپل کاري دفتر کې وکتل، د دې کتنې پر مهال د وزارت د مقام دفتر رئیس محترم مولوي شاه محمد دوست، د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم رئیس محترم مولوي ثناء الله فرقاني، د ترکیې هېواد د انقرې ښار د سرې میاشتې ټولنې رئیس محترم محمد سیلای او د یاد هېواد یو شمېر تجارانو حضور درلود.
په دې کتنه کې محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني په اوسني عصر کې د مسلمانانو د یووالي او پیوستون په اړتیا خبرې وکړې او وې ویل: د فلسطین مظلوم ولس نن د یهودیانو د ظلم په اور کې سوځي او د افغانستان خلک د نورو هېوادونو په پرتله دا موضوع ښه درک کولای شي ځکه چې د دې خاورې خلک د تیرو څو لسیزو په جګړو کې له ورته ظلمونو او ستونزو سره مخ وو، او اسلامي نړۍ نن ورځ د پخوا په پرتله پیوستون او یووالي ته ډېره اړتیا لري.
محترم شیخ صاحب همداراز زیاته کړه: د افغانستان د خلکو د جهاد اصلي موخه په دې هېواد کې د اسلامي نظام ټینګښت وو، الحمد لله د اسلامي امارت مجاهدین دغې موخې ته ورسیده او ستاسو څخه مو هیله دا ده چې د اسلامي امارت ښه انځور د ترکیې ولس ته وړاندې کړئ تر څو کوم منفي ذهنیتونه چې د ځینو ډلو لخوا رامنځته شوي هغه بدلون ومومي.
هغه همداراز مستحقینو ته د مرستو رسولو په برخه کې د بشپړ شفافیت ډاډ ورکړ او وې ویل: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د اسلامي امارت د شهیدانو ورثه وو او معلولینو او دغه راز د تېرې اداري یتیمانو،

کونډو او معلولینو ته یو ډول میاشتنۍ نغدي مرستې ورکوي.
د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال له یاد پلاوي څخه وغوښتل چې یتیمانو ته د فني او حرفوي زده کړو او معلولینو ته د مصنوعي غړو جوړونې، د برېښنايي ویلچرونو چمتو کولو او همداراز د ژوند په نورو برخو کې لازمې اسانتیاوې رامنځته کړي.
په ورته وخت کې د ترکیې هېواد د نداء الخیر مؤسسې مشر او ورسره راغلي پلاوي په افغانستان کې د اسلامي نظام رامنځته کېدل د ټولو اسلامي هیوادونو لپاره یوه ښه بیلګه وبلله او زیاته یې کړه: د ټولې نړۍ مسلمانان په دې هېواد کې د اسلامي نظام له رامنځته کېدو سره خوشحاله دي او د لوی خدای جل جلاله په مرسته به، په دې هیواد کې شته اقتصادي او ټولنیزې ستونزې هم حل شي.
همداراز یاد پلاوي یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د مرستو برابرولو په برخه کې د هر اړخیزې همکارۍ ژمنه وکړه.

## د شـــهیدانو او معلولینـــو چـــارو وزارت مرســـتیال محـــترم شـــیخ صاحـــب عبدالحکیـــم حقـــاني د غـــزني ولایـــت لـــه والي سره وکتـــل

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني چې د دې وزارت د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي یې ملتیا کوله، غزني ولایت ته یې د سفر په ترڅ کې د یاد ولایت له والي محترم الحاج حافظ محمد امین عمري سره وکتل.
د دې کتنې په ترڅ کې محترم شیخ صاحب، غزني ولایت ته د خپل سفر د موخو او اهدافو په هکله معلومات وړاندې کړل او د غزني له والي سره یې د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست په وړاندې د پرتو ستونزو او ننګونو د له منځه وړلو په موخه مفصلې خبرې وکړې.
په ورته وخت کې د غزني ولایت والي هم د یاد ریاست په وړاندې شته ستونزو او ننګونو ته د رسیدګۍ په برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه.
محترم شیخ صاحب همداراز د غزني ولایت د شهیدانو او معلولینو چارو ریاست د فعالیتونو او اجراآتو څخه هم هر اړخیزه ارزونه ترسره کړه او یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د لا غوره او معیاري خدمتونو وړاندې کولو په پار یې اړوند مسؤل ته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې.



# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو د کاري ظرفیتونو لوړولو په موخه د هغوی د اړتیاوو ارزونه ترسره شوه

د ملکي خدمتونو د انستیتیوت له لوري د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو د کاري ظرفیتونو او مهارتونو او په ورځنیو چارو کې د هغوی د زده کړه ئیزه و اړتیاوو معلومولو په موخه د نیازسنجۍ فورمو په وېشلو سره د یادو کارکوونکو ارزونه ترسره شوه، د دې ارزونې په پایله کې به هغوی ته په بېلابېلو برخو کې د کاري ورتیا لوړولو په موخه د اړتیا وړ روزنیز پروګرامونه په لاره واچول شي.

په همدې موخه په جوړ شوي پروګرام کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان، د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، د ملکي خدمتونو د انستیټوټ رئیس محترم انجنیر ویس الدین ویس او د دې وزارت یو شمېر آمرینو او کارکوونکو ګډون کړی وو.

د دې پروګرام په پرانیست غونډه کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان د کارکوونکو د اړتیاوو ارزونه د هغوی د کاري ظرفیتونو په لوړولو کې مهمه و بلله او زیاته یې کړه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کمو تشکیلاتو په تناسب بیا هم د دې وزارت کارکوونکو د ورسپارل شویو مسؤلیتونو په درک کولو، وظیفوي ژمنتیا او پوره ایمانداری سره توانېدلي چې د ثبت شویو یتیمانو، کونډو او معلولینو د تثبیت او ثبت بهیر په مرکز او ولایتونو کې پر مخ یوسي او هغوی ته د بوي شفافې پروسې په ترځ کې د بانکي سیستم له لارې د روان کال د لومړیو شپږو میاشتو نغدي مساعدتونه حواله کړي.

محترم مولوي کلیم الله افغان د ملکي خدمتونو د انستیټوټ له رئیس څخه وغوښتل ترڅو د کارکوونکو د مهارتونو او کاري ظرفیتونو لوړولو په موخه نور روزنیز پروګرامونه په لاره واچوي تر څو د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته لا ښه خدمتونه وړاندې شي.

همدارنګه په دغه پروګرام کې د ملکي خدمتونو د انستیتیوت سرپرست او مرستیال محترم انجنیر ویس الدین ویس په بېلابېلو څانګو کې د کارکوونکو د کاري ظرفیت د اړتیاوو ارزونه یوه اساسي اړتیا وګڼله او زیاته یې کړه: د ملکي خدمتونو انستیټیوټ د اړتیاوو په پام کې نیولو سره د کارکوونکو د مهارتونو او کاري ظرفیت د لوړولو په موخه روزنیز پروګرامونه په لاره اچولي او دا بهیر به په ټولو وزارتونو او بیا په ولایتونو کې هم پلي شي.

د دې پروګرام په ترڅ کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، مسلکي او تخصصي زده کړې د کارکوونکو لپاره یوه مهمه او اساسي اړتیا وګڼله او د ملکي خدمتونو د انستیتوت له مسؤلینو څخه یې وغوښتل، تر څو د دې وزارت کارکوونکو ته د اداري اصولو، مکتوب لیکنې، پلان جوړونې، مالي او تدارکاتي برخو کې روزنیز ورکشاپونه په لاره واچوي ترڅو له هغو نیمګړتیاوو او ستونزو سره چې کارکوونکي مخامخ دي هغوی ته د حل لاره ومونډل شي.

د یادولو وړ ده چې د کارکوونکو د اړتیاوو د ارزونې پروګرام پلي کول د کارکوونکو د کاري ظرفیت لوړولو، د اداري پراختیا، د شته منابعو څخه په سمه توګه د ګټې اخیستنې او د نویو میتودونو په پېژندلو کې به مهم رول ولوبوي او د دې سره به کارکوونکي وکولای شي ژر تر ژره متوقعه پایلو ته لاسرسی وموي.

## جلسۀ به منظور بازنگری نیازمندی های وزارت امور شهداء و معلولین در سال روان مالی، در ریاست عمومی مالی و اداری این وزارت برگزار گردید

جلسۀ متذکره که به ریاست محترم مولوی کلیم الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری این وزارت تدویر یافته بود، در آن محترم مولوی محمد امین درویش رئیس مالی و حسابی، محترم ملا عبدالرحمن فهیم وارسی کننده ریاست اداری و خدمات و آمر انسجام و هماهنگی ولایات، محترم قاری عبدالباسط آمر تدارکات، محترم گل محمد مسلم آمر ترانسپورت، محترم محمد ادریس آمر بودیجه و برخی مدیران بخش های مربوطه اشتراک ورزیده بودند.

طی این جلسه محترم مولوی کلیم الله افغان رئیس عمومی مالی و اداری وزارت امور شهدا و معلولین بر ایجاد همکاری و هماهنگی بیشتر بین ریاست های مربوطه تاکید نموده، موصوف همچنان از مسؤلین بخش های مربوطه خواست تا برای تطبیق آنعده پروژه های که به آن بودجۀ کافی اختصاص یافته است، کار پروژه های متذکره آغاز نمایند.

همچنان اشتراک کننده گان این جلسه نیز به نوبۀ خود پیرامون چگونگی فراهم نمودن نیازمندی های وزارت در سال روان مالی نظریات و پیشنهادات شان را شریک نمودند.

در اخیر جلسه از سوی محترم مولوی کلیم الله افغان به آنان به منظور بهبود روند کاری هدایات و راهنمایی های لازم ارائه گردید.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت څه باندې یوولس (۱۱) میلیارده افغانۍ په ۱۴۰۳ مالي کال کې یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د نغدي مساعدتونو په توګه ویشلې دي

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بودیجې له منظورۍ سره سم د مرکز په شمول په ټول هېواد کې یتیمانو، کونډو او معلولینو ته د نغدي مساعدتونو (ماهانو) د ورکړې پروسه پیل کړه او د منظور شوې طرحې سره سم یې د مرغومې(جدي) میاشتې پورې یوولس (۱۱) میلیارده او (۴۸۴) افغانۍ د نغدي مساعدتونو په توګه د بانکي سیستم له لارې په بوره شفافیت سره د یتیمانو، کونډو او معلولینو بانکي اکونټونو ته حواله کړې دي. د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ارمن قشر

د ملاتړ او لاسنیوي په موخه د بېلابېلو خیریه مؤسساتو او بنسټونو په همکارۍ د خوراکي او غیر خوراکي توکو چمتو کولو او وېشلو پروسه هم پیل کړې وه. د دې پروسې اساسي موخه د یتیمانو، کونډو او معلولینو ژوند ته د ښه بدلون راوستل او هغوی ته د اړینو توکو برابرول وو. د دې ګامونو په اخیستلو سره، د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت هڅه کړې ده چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره د ژوند شرایط لا ښه کړي او له هغوی سره د اړتیاوو په پوره کولو کې مرسته وکړي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د یتیمانو د ملاتړ په موخه د مسلم هینډز نړیوالې مؤسسې سره د څه باندې شپږویشت (۲۶) میلیونه افغانیو په ارزښت هوکړه لیک لاسلیک کړ

د دې هوکړه لیک پر بنسټ به، په کابل، کنړ، ننګرهار، لوګر، پکتیا، غزني، کاپیسا، پروان، وردک، بلخ او په خوست ولایتونو کې د (۸۰۰) تنو یتیمانو ته د اقتصادي ځان بساینې په موخه نغدي مرستې ووېشل شي چې هر مستحق یتیم به، په میاشتنۍ ډول (۲۱۶۰) افغانۍ ترلاسه کړي.

یاد هوکړه لیک د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د بهرنیو اړیکو او پلان رئیس محترم ملا صدو خان حق شناس او د مسلم هنډز نړیوالې مؤسسې رئیس محترم محمد آصف فولاد ترمنځ لاسلیک شو.

د یادونې وړ ده چې د دې پروژې ټولیز ارزښت (۲۶) میلیونه، (۶۴۵) زره او (۷۶۰) افغانۍ کېږي چې د یوه کال موده کې به، په پورتنیو ذکر شویو ولایتونو کې تطبیق شي.

## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست د روان کال په اوږدو کې په زرګونو تنو مستحقو کسانو باندې مرستې وېشلې دي



د ټولنیزو خدمتونو د تنظیم ریاست چې یتیمانو، کونډو، معلولینو او اړمنو کسانو ته د لا ښو او معیاري خدمتونو وړاندې کولو په موخه د شهیدانو او معلولینو چارو معینیت تر چتر لاندې فعالیت

کوي او تر اوسه پې د شهيدانو ورثه وو او معلولينو ته د ژوند د هوساينې او د لازمو اسانتياوو رامنځته کولو په برخه کې پوره هڅې ترسره کړي دي. ياد رياست د (۱۴۰۳) کال په اوږدو کې د مرکز په شمول د هېواد په ټولو ولايتونو کې (۴۲) زره او (۱۵۷) تنو يتيمانو، کونډو او معلوليت لرونکو وګړو ته د څلور ميليونه او (۹۷۵) زرو او (۷۰۰) امريکايي ډالرو په ارزښت نغدي مرستې، خوراکي توکي، ويلچرونه، ژمني توکي، د خياطۍ ماشينونه، زرنج نقليه وسايط او نورې مرستې چمتو او په منظم او شفاف ډول وېشلي.

همدارنګه (۵۳٤۱) تنه مستحقين په مرکز او (۳۶) زره او (۸۱۶) تنه يتيمان، کونډې او معلولين په ولايتونو کې له يادو مرستو څخه برخمن شوي دي. د پورتنيو ذکر شوېو مرستو چمتوکول او وېش د خيريه بنسټونو او مؤسسو له لورې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت سره په همغږۍ او د لاسليک شوېو هوکړو ليکونو پر اساس په مرکز کې د ټولنيزو خدمتونو رياست لخوا او په ولايتونو کې د شهيدانو او معلولينو چارو رياستونو له لورې په منظم او شفاف ډول مستحقو کسانو ته وېشل شوي دي.

## وزارت امور شهداء و معلولين به منظور حمايت از افراد مستحق و آسيب‌پذير با فرا رسيدن سرمای فصل زمستان به هزاران تن آنان مساعدت توزيع نموده است

وزارت امور شهداء و معلولين به منظور بهبود وضعيت زندگی ايتام، خانم‌های بيوه و معلولين در کشور، برای (۱۳) هزار و (۷۹۳) تن از اين قشر آسيب‌پذير جامعه مساعدت های که شامل مواد غذايی، البسهٔ زمستانی و ويلچر می‌شود. توزيع نموده است که هدف از اين اقدام، ايجاد رفاه و تسهيل در زندگی اين قشر نيازمند جامعه می باشد. توزيع مواد خوراکی به منظور تأمين نيازهای اوليه غذايی، البسهٔ زمستانی به منظور محافظت از آنان در برابر سرما و شرايط سخت جوی در فصل زمستان صورت گرفته است و همچنان، ويلچرها نيز به معلولين استقلال بيشتری در زندگی روزمره شان ببار می آورند. کمک‌های متذکره به همکاری مؤسسات و نهادهای خيريه کمک‌رسان ملی و بين المللی در هماهنگی با وزارت امور شهدا و معلولين صورت گرفته که با توزيع اين مساعدت‌ها، به مشکلات و چالش‌های فرا راه ايتام، خانم‌های بيوه و معلولين تا حدودی رسيدگی شده است، همچنان ادامهٔ روند توزيع کمک ها می تواند در بهبود شرايط زندگی ايتام، خانم های بيوه و معلولين مثمر واقع شود و آنان را از فشارهای اقتصادی و اجتماعی رهايی ببخشند.

## د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د ژمي موسم په رارسېدو سره څه باندې پنځلس زره (۱۵) مستحقو کسانو باندې ژمني توکي ويشلې دي

د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت مرستيال محترم شيخ صاحب عبدالحکيم حقاني په وينا د ژمي موسم په را رسېدو سره د هېواد په مرکز او ولايتونو کې (۱۵) زره او (۲۰۰) تنو يتيمانو، کونډو، معلولينو او اړمنو کسانو لپاره ژمنۍ مرستې په پام کې نېول شوې وې، چې په ډېری ولايتونو کې د يادو مرستو د وېش پروسه بشپړه شوې ده او مستحقو کسانو مرستې ترلاسه کړې دي.
همداراز محترم شيخ صاحب زياته کړه: يادو کسانو ته ژمنۍ مرستې د خيريه بنسټونو او مؤسساتو له لوري د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت سره په همغږۍ په منظم او شفاف وېشل شوي دي.

## د شهيدانو او معلولينو چارو په وزارت کې زر (۱۰۰۰) تنو مستحقو کسانو باندې ژمني توکي ووېشل شول

د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت د کابل ولايت اړوند د نواحيو او ولسواليو زر (۱۰۰۰) تنو يتيمانو، کونډو، معلولينو او اړمنو کسانو باندې د يوې خيريه مؤسسې په مالي ملاتړ ژمني توکي چې په هغه کې البسه او کمپلۍ شاملې وې، په شفاف او منظم ډول ووېشل.
يادې مرستې د شهيدانو او معلولينو چارو وزارت مرستيال محترم شيخ صاحب عبدالحکيم حقاني، د ټولنيزو خدمتونو د تنظيم رئيس محترم مولوي ثناء الله فرقاني، د اطلاعاتو او عامه اړيکو رئيس محترم مفتي فيصل خاموش، د پلانونو د تطبيق څخه د څارنې او ارزونې آمر محترم ملا اهل الله حنفي او د مؤسسې مسؤلينو په شتون کې پر مستحقو کسانو باندې ووېشل شوې.

## په ننګرهار ولايت کې (۵۸۳) تنه يتيمان او بېوزله کسان د حرفوي زده کړو څخه فارغ شول

د ننګرهار ولايت د شهيدانو او معلولينو چارو رياست د HHRD خيريه مؤسسې په همکارۍ په دې ولايت کې (۵۸۳) تنو مستحقو يتيمانو او اړمنو کسانو ته د کمپيوټر، موبايل ترميم او همداراز د خياطۍ او انګليسي ژبې زده کړې روزنيز پروګرامونه په لاره اچولي وو، چې د روزنيزې دورې له بشپړولو وروسته د يوې پرتمينې غونډې په ترڅ کې هغوی ته د فراغت سندونه ورکړل شول.
په همدې موخه جوړ شوي پروګرام کې د ننګرهار ولايت د شهيدانو او معلولينو چارو رئيس محترم محمد صابر څواک، د ولايت مقام مشاور محترم مولوي هدايت الله بريالي، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر رئيس محترم مولوي زاهدالله وفا، د اقتصاد، پوهنې رياستونو استازو او يو شمېر نورو مسؤلينو ګډون درلود.
د يادې غونډې په ترڅ کې د ننګرهار ولايت د شهيدانو او معلولينو چارو رئيس محترم محمد صابر څواک د يادې مؤسسې د هلو ځلو څخه د مننې ترځنګ د ورته پروګرامونو د دايرولو غوښتنه وکړه.
د يادونې وړ ده، چې د پروګرام په پای کې فارغ شويو کسانو ته د حرفو اړوند ابزار او وسايل هم ورکړل شوو.

# د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت اړوند شپېته (۶۰) تنو ولایتي کارکوونکو د نوي الکترونیکي سیستم له څلور ورځني روزنیز ورکشاپ له بشپړولو وروسته تصدیق نامې ترلاسه کړې

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د ډېټابېس او معلوماتو ریاست له لوري شپېتو (۶۰) تنو ولایتي کارکوونکو ته د یتیمانو، کونډو او معلولینو د نوي الکترونیکي سیستم د زده کړې تر عنوان لاندې څلور ورځنی روزنیز ورکشاپ په لاره اچول شوی وو، چې هغوی ته په بریالیتوب سره د یاد ښوونیز ورکشاپ له بشپړولو وروسته د دې وزارت د مرستیالانو لکه هر یو محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند او شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني لخوا تصدیق نامې ورکړل شوې.

په هغه پروګرام کې چې په همدې موخه د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د غونډو په عمومي تالار کې جوړ شوی وو، په هغه کې د دې وزارت مسلکي او تخنیکي چارو مرستیال محترم الحاج ملا عبدالرزاق آخند، د شهیدانو او معلولینو چارو مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني، د مالي او اداري چارو عمومي رئیس ښاغلي مولوي کلیم الله افغان، او د اړوند څانګو رئیسانو ، یو شمېر آمرینو او د وزارت اړوند کارکوونکو شتون درلود.


د ورکشاپ په اختتامیه غونډه کې د شهیدانو او معلولینو چارو مرستیال محترم شیخ صاحب عبدالحکیم حقاني د دې ښوونیز ورکشاپ پر ارزښت او اهمیت باندې خبرې وکړې او زیاته یې کړه: د دې وزارت رهبری تل هڅه کړې چې د خپلو مسؤلیتونو په درک کولو سره د یتیمانو، کونډو او معلولینو لپاره معیاري او مؤثر خدمتونه وړاندې کړي او کوم امکانات چې په لاس کې لري د کارکوونکو د ظرفیت لوړونې په برخه کې یې داسې ګټور ورکشاپ جوړ کړی د دې روزنیز ورکشاپ اساسي موخه د نوي الکترونیکي سیستم اړوند کارکوونکو د کاري وړتیاو لوړول دي چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ثبت او راجسټر پروسه په ښه ډول پر مخ یوسي.

محترم شیخ صاحب له کارکوونکو څخه وغوښتل چې د شهیدانو ورثه وو او معلولینو ته د خدمتونو وړاندې کولو په برخه کې هیڅ ډول سهل انګاري او غفلت ونکړي، په بشپړ جدیت او تعهد سره د وزارت د موخو په پلي کېدو کې هڅه وکړي، دندو ته پر وخت حاضر شي، خپل سیرت او صورت د اسلامي شریعت مطابق برابر کړي او ورسپارل شوې دندې د یوه لوی مسؤلیت په توګه وګڼي.

په دې پروګرام کې د مالي او اداري چارو عمومي رئیس محترم مولوي کلیم الله افغان د نوي الکترونیکي سیستم په ګټو خبرې وکړې او یاد سیستم یې د شفافیت، اعتماد او باور، نظم او انسجام او د یتیمانو، کونډو او معلولینو د کره او دقیقو معلوماتو د ثبت او راجسټر په برخه کې خورا مهم وباله او په منظم ډول یې د یادې پروسې په پر مخ وړلو ټینګار وکړ.

محترم مولوي کلیم الله افغان د دې وزارت کارکوونکو ته په خطاب کې وویل: خدای تعالی جل جلاله د هر انسان په وجود کې یو جوهر نغښتی دی، فکري استعدادونه، اخلاص، صداقت او توجه کولای شي چې په هر انسان کې نغښتی جوهر راویښ کړي او د هغه څخه په ګټې اخیستنې سره انسان کولای شي له

هر پلوه خپل ځان، ټولنې او هېواد ته خدمتګار وګرځي.
نوموړي زیاته کړه: زموږ په ګران هېواد کې ۴۵ کلنه جګړه او ناخوالې د دې لامل شوې چې د دې هېواد د وګړو یوه زیاته برخه یتیمان، کونډې او معلولین شي او دا د ټولنې د هر فرد مسؤلیت دی چې د دې ارمن قشر لپاره ټولنیزه هوساینه رامنځته کړي تر څو هغوی وکولای شي چې په ټولنه کې د امنیت او هوسا ژوند احساس وکړي.
په دې پروګرام کې د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود په خپلو خبرو کې کارکوونکو ته د سپارل شویو مسؤلیتونو په ښه توګه د ترسره کولو په اړه سپارښتنې وکړې او ویې ویل: خدای تعالی جل جلاله د خپل قانون د پلي کولو او تطبیق په موخه تر ټولو غوره انسانان رالېږلي دي. له همدې امله تاسو هم تقوی او اخلاص ته په خپل وجود کې وده ورکړئ او هغه څه چې تاسو ته سپارل شوي دي په سمه توګه او په بشپړ اخلاص سره ترسره کړئ.
همدارنګه په دې پروګرام کې د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش د یتیمانو، کونډو او معلولینو د نوي الکترونیکي سیستم په اړه تفصیلي وضاحت وړاندې کړل او وې ویل: د ډېټابېس او معلوماتو ریاست اړوند په نوي الکترونیکي سیستم کې درې مهمې برخې شاملې دي چې یوه یې د یتیمانو، کونډو او معلولینو د ثبت او راجسټریشن، بله یې د تأدیاتو او محاسبې برخه ده او درېیمه یې د هغوی بایومټریک برخه شامل ده. هغه زیاته کړه: د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت هڅه دا ده چې په ټول هېواد کې یتیمان، کونډې او معلولیت لرونکي وګړي په منظم ډول ثبت او راجسټر کړي تر څو وکولای شي په ښه توګه د هغوی اړتیاوو او غوښتنو ته ځواب ووايي او هغوی د ښه ملاتړ څخه برخمن کړي.
همداراز د دې پروګرام په ترځ کې د وزارت اړوند هغه (۳۴) تنو کارکوونکو لپاره چې څه موده وړاندې د کارکوونکو چارو ریاست له لوري د کمپیوټر پروګرامونو د وینډوز، ورډ او اکسل په برخو کې روزنه ورکړل شوې وه، فارغ شوېو کسانو ته هم تصدیق پاڼې ورکړل شوې.
په ورته وخت کې د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد ریاست له لورې د دې وزارت اړوند کارکوونکو د دیني او اسلامي معلوماتو د زیاتولو په موخه په ورځني ډول منظم تعلیمي پروګرام په لاره اچول شوی چې د دې پروګرام په ترځ کې اړوند کارکوونکو ته د قرآن عظیم الشان د تجوید او فقهي موضوعاتو په اړه تدریس ترسره کېږي.
څه موده وړاندې د وزارت له کارکوونکو څخه په ټولیزه توګه ازموینه واخیستل شوه چې په پایله کې څلور تنو کسانو چې لوړې نمرې یې ترلاسه کړې وې، د نغدي جوایزو په ورکړې سره وستایل شول.



## د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت یو پلاوي په بدخشان، تخار او کندز ولایتونو کې د یو شمېر فدایانو کورنیو سره نغدي مرستې ترسره کړې

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود په مشرۍ یو پلاوي چې د مالي او حسابي چارو رئیس محترم مولوي محمد امین درویش، د خاصو شهیدانو د چارو آمر محترم مولوي محمد یې ملتیا کوله، په بدخشان، تخار او کندز ولایتونو کې یې د یو شمېر فدایانو کورنیو سره له نږدې وکتل، ستونزې او غوښتنې یې واورېدې او هرې کورنۍ سره یې یوه اندازه نغدي مرسته هم ترسره کړه. یاد پلاوي د دې سفر په ترڅ کې د بدخشان، تخار او کندز ولایتونو د شهیدانو او معلولینو چارو ریاستونو له کاري بهیر څخه هم لیدنه وکړه، د دې لیدنې په ترڅ کې محترم مفتي عبدالاحد مسعود د یاد ریاستونو اړوند کارکوونکو څخه چې صورت او سیرت یې د اسلامي شریعت مطابق وو، خوښي ښکاره کړه او هغوی وهڅول تر څو د مراجعینو سره له نیکو اخلاقو څخه کار واخلي او چارې په پوره اخلاص او همغږۍ ترسره کړي.

# د شـهیدانو او معلولینــو چــارو پــه وزارت کـې کال سـنټر ( د اړیکومرکـز) فعـال شـو

د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت د یتیمانو، کونډو او معلولینو ستونزو او غوښتنو ته د پر وخت رسیدګۍ په موخه کال سنټر (د اړیکو مرکز) فعال کړ.
یاد مرکز چې د دې وزارت د اطلاعاتو او عامه اړیکو په ریاست کې فعال شو، د پرانېستې په پروګرام کې یې د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي، د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش، د کورنۍ پلټنې رئیس محترم مولوي احسان الله حقاني، د شهیدانو چارو رئیس محترم مولوي روح الله نصرت، د معلولینو چارو رئیس محترم قاري عبدالکریم حلیمي او د اداري خدماتو رئیس محترم مولوي سردار محمد حبیب حضور درلود.
د دې مرکز د پرانیستلو په پروګرام کې د کارکوونکو چارو رئیس محترم مولوي محمد موسی صدیقي د شهیدانو وارثینو او معلولینو د ستونزو د راکمولو په برخه کې د دې مرکز فعالول خورا مهم وباله او وېې ویل: د دې مرکز په فعالیدو سره به د معلوماتو په برخه کې د مراجعینو ستونزې حل او د هغوی د سرګردانۍ مخنیوی به وشي.
نوموړي همداراز د اړوندې څانګې له کارکوونکو څخه وغوښتل چې د یتیمانو، کونډو او معلولینو اړتیاوې او ستونزې د حل په موخه پر وخت له اړوندو ریاستونو سره شریکې کړي او له یاد سیستم څخه په سمه توګه ګټه پورته کړي او د شهیدانو وارثینو او معلولینو سره کره او دقیق معلومات شریک کړي.



په دې پروګرام کې د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس محترم مفتي فیصل خاموش هم د دې مرکز د فعالولو د څرنګوالي په باب معلومات وړاندې کړل او وېې ویل: د دې مرکز فعالول د شهیدانو او معلولینو چارو وزارت له مهمو او اساسي اړتیاوو څخه وو، او په فعالولو سره به یې د هغو مراجعینو سره ډېره مرسته وشي کوم چې له ولایتونو او لرې ځایونو څخه دې وزارت د معلوماتو اخیستلو په موخه راځي د هغوی لپاره ښه اسانتیا رامنځته شوه چې کولای شي په ډېر کم وخت او لږ لګښت خپلې ستونزې د حل په موخه دې مرکز سره شریکې کړي.
نوموړي دغه راز د دې مرکز د فعالولو په برخه کې د اداري او خدماتو ریاست له همکارۍ مننه وکړه.
همداراز د دې وزارت د دعوت او ارشاد رئیس محترم مفتي عبدالاحد مسعود هم د اړیکو مرکز د فعالولو پر اهمیت خبرې وکړې او وې ویل: موږ باید هڅه وکړو تر څو د شهیدانو وارثینو او معلولینو ته د لا ښو خدمتونو د وړاندې کولو زمینه برابره کړو، تر څو د هغوی ستونزو ته په ښه ډول رسیدګي وشي.
د یادونې وړ ده د شهیدانو ورثه او معلولین له دې وروسته کولای شي چې خپلې ستونزې او غوښتنې د ټلیفون له لارې په دې شمېره (۰۲۰۲۵۲۶۷۰۵) له دې وزارت سره شریکې کړي.

# اهمیت شوری از نظر اسلام

مولوی محمد موسی*صدیقی* رئیس امور کارکنان



**تعریف:**

شوری در لغت از شور گرفته شده و بمعناهای زیاد استعمال شده است مانند بیرون نمودن عسل از قالب موم و تصفیه کردن آن – دیدن سر و پای و گرد و پیش یک حیوان بخاطر خریداری –

البته استعمال آن بمعنای خواستن، تحقیق و تلاش آن رای که بحق زیاد نزدیک باشد ویا عینا حق باشد زیاد صورت گرفته است. و شوری در اصطلاح عبارت از رای خواستن ازکسانی هست که درعین موضوع کاملا باخبر و آگاه باشند و خود را بنظری میرساند که نزدیک بحق و صواب باشد. به هر لحاظ مفهوم شوری اینست که انسان تنها برتفکر و نظر خود اکتفاء نکند، بخاطر وضاحت بهترِ موضوع و فهم درست و دقیق، آنرا با اصحاب علم، تجربه و درایت شریک و مطرح نماید تا که نظری درست را بدست بیاورد وبر آن عمل کند. کسیکه مشوره نمیکند فقط یک رای ( نظر) نزد خود میداشته باشد که اغلبا احتمال خطا و نادرست بودن آن موجود میباشد و در صورت مشوره با اهل مشاورت غالبا راه و مخلص بهتر و صوابتری را بدست می آورد.

شوری (مشاوره یا مشورت) در اسلام از اهمیت ویژهای برخوردار است و در قرآن کریم و سنت پیامبر اسلام (صلی الله علیه وسلم) به آن تأکید شده است. به طور کلی، شوری در اسلام به عنوان یک اصل بنیادی در تصمیم‌گیری‌های فردی و جمعی شناخته می‌شود. در زیر برخی از ابعاد اهمیت شوری از نظر اسلام را بررسی می کنیم :

## تأکید قرآن کریم

الله متعال که خالق انسانها است برطبعیت مخلوق خود بسیار دانا و عالم است. او جل جلاله در شرایطی و حالاتی برای بندگان خود بر شوری امر فرموده است که رسول الله صلی الله علیه وسلم پس از آن که در غزوه احد از مدینه منوره به مشوره صحابی بیرون میشود و موقتا با مشکلات روبرو میشوند با آن هم الله متعال به شورا امر میکند و پیامبر اسلام صلی الله علیه وسلم بر علاوه ای مسایل اجتماعی با مسلمانها در مسایل شخصی نیز مشوره میکرد مثلیکه در واقعه افک با حضرت علی و حضرت زید بن ثابت ( رضي الله عنهما) مشوره کردند-

گفته میشود دست آورد بزرگ انقلاب فرانسه بمیان آوردن شوری در بین کشورهای مسیحی اروپایی بود واین را درک کرد که شوری یک نیاز طبیعی و نظری ای بشر بشمار میرود - اسلام که یک دین کامل و مکمل است، ۱۴۴۰ سال قبل از امروز مسلمانان را به شوری امر فرموده بود حتی یک سوره قرآن کریم را به اسم شوری مسمی نموده است.

در حدیث شریف آمده است : ما خَابَ مَنِ اِسْتَخَارَ، وَ لاَ نَدِمَ مَن اِسْتَشَارَ. رواه الطبراني في معجمه الكبير والصغير مرفوعاً إلى النبي صلى الله عليه وسلم.

ترجمه: نا امید نشد کسیکه استخاره کرد و پشیمان نشد کسیکه مشوره کرد.

## سنت پیامبر اسلام ( صلی الله علیه وسلم )

پیامبر اسلام (صلی الله علیه وسلم) به مشاوره با صحابه کرام رضي الله عنهم و افراد دلسوز جامعه اهمیت زیادی می‌داد. ایشان در بسیاری از مواقع تصمیمات مهم را با مشاوره از صحابه کرام اتخاذ می‌کردند و از نظرات آنان استفاده می‌کرد.

و همچنان در قرآن کریم، در آیه ۳۸ سوره شوری، به موضوع شوری اشاره شده است ، الله متعال میفرماید: وَٱلَّذِينَ ٱسْتَجَابُواْ لِرَبِّهِمْ وَأَقَامُواْ ٱلصَّلَوٰةَ وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ وَمِمَّا رَزَقْنَٰهُمْ يُنفِقُونَ

و [هم چنین برای] کسانی که [ندای] پروردگارشان را اجابت نمودند و نماز برپا داشته و کارهایشان [همواره] با مشورت میان آنهاست و از آنچه به آنان روزی دادیم، انفاق می‌کنند.

وهمچنان الله متعال در آیه ۱۵۹ سوره ال عمران میفرماید:

فَبِمَا رَحْمَةٍ مِنَ اللَّهِ لِنْتَ لَهُمْ ۖ وَلَوْ كُنْتَ فَظًّا غَلِيظَ الْقَلْبِ لَانْفَضُّوا مِنْ حَوْلِكَ ۖ فَاعْفُ عَنْهُمْ وَاسْتَغْفِرْ لَهُمْ وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ ۖ فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ ۚ إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ الْمُتَوَكِّلِينَ . آل عمران ۱۵۹

ترجمه: به مرحمت خدا بود که در برابر آنان [= مردم] نرم و مهربان شدی و اگر تندخو و سخت‌دل بودی مردم از گِرد(اطراف) تو پراگنده می‌شدند، پس آنان را ببخش و برای آنها طلب آمرزش کن و (برای دلجویی آنها) در کارها با آنها مشورت کن، پس هر آنچه تصمیم گرفتی با توکل به خدا انجام ده، که خدا آنان را که براو اعتماد کنند دوست دارد.

این آیه نشان‌دهنده این است که مشاوره و مشورت در امور مختلف، حتی در مسائل مربوط به حکومت و جامعه، ضروری است و پیامبر (صلی الله علیه وسلم) نیز از این اصول پیروی می‌کرد.

ابن منظور رحمه الله مینویسد که: الامر نقیض النهي. والامرالحادثة ( امر در مقابل نهی است و معنای امر حادثه و واقعه می آید. از این تشریح امامان لغت آشکار میگردد که معنای امر حکم و حکومت نیز می آید و بمعنای مهم و مهتم بالشان نیز استعمال میشود و مفهموم آیت اینست که ای پیامبر صلی الله علیه وسلم در امورات حکومت و در رابطه به واقعه های مهم با صحابه کرام رضي الله عنهم مشوره کن.

شوری موجب می‌شود تا تصمیمات به صورت جامع و همه‌جانبه بررسی شوند و نظرات مختلف مورد توجه قرار گیرد. این امر باعث ایجاد همبستگی و انسجام اجتماعی می‌شود و به کاهش مشکلات و اختلافات کمک می‌کند. با مشورت و بررسی نظرات مختلف، تصمیم گیری‌ها می‌توانند به صورت منطقی تر و متعادلتر انجام شوند. این امر کمک می‌کند تا تصمیمات بهتری اتخاذ شود و از بروز اشتباهات جلوگیری شود.

مشورت به معنای احترام به نظرات و حقوق دیگران است. این کار باعث می‌شود که افراد احساس کنند که در تصمیم‌گیریهای مرتبط نقش دارند و نظراتشان مورد احترام قرار می‌گیرد.

## نتیجه‌گیری

شوری در اسلام نه تنها به عنوان یک روش تصمیم‌گیری بلکه به عنوان یک اصل دینی، اخلاقی و اجتماعی مورد توجه است. این اصل به تأکید بر احترام به نظرات دیگران، مشارکت در تصمیم‌گیری و بهبود کیفیت تصمیمات کمک می‌کند. در نتیجه، شوری به تقویت انسجام اجتماعی و ارتقاء عدالت و انصاف در جامعه اسلامی کمک می‌کند.

# مصاحبه با انجنیر مسیح الله صبری یک تن از معلولین

مصاحبه کننده: عبدالمهیمن ایوبی

سوال: نخست اگر خود را به خوانندگان مجله معرفی نمایید؟

انجنیر مسیح الله صبری هستم از ولسوالی صبری ولایت خوست و فعلاً باشندهٔ شهر کابل می باشم که به اثر انفجار راکت از ناحیهٔ هر دو پا معلول شده ام.

سوال: اگر در مورد نوع معلولیت تان معلومات بدهید؟

متأسفانه جنگ های چندین دههٔ اخیر و اشغال کشور توسط متجاوزین شوروی سابق، امریکا و متحدین اش قربانی های بیشماری از مردم افغانستان گرفت، که در اثر آن شهروندان کشور یتیم، بیوه، معلول و مهاجر گردیدند، قسمیکه شما می دانید دو نوع معلولیت وجود دارد که جنگی و مادر زادی می باشند، بندهٔ هم از جملهٔ معلولین می باشم که به اثر انفجار راکت هر دو پاهایم معلول شده است.

سوال: شما فرمودید معلولیت به دو نوع است، علل و عوامل این گونه معلولیت را در چه می بینید؟

جواب: بر این موضوع همهٔ ما ایمان و یقین کامل داریم که تقدیر خیر و شر از جانب خداوند متعال است، پس داد و گرفت همه از جانب اوست، قبلاً هم یادآوری نمودم که طی چندین دهه جنگ و ناامنی در میهن عزیز ما از سوی بیگانگان سبب خسارات بیشماری جانی و مالی گردید.

بدین اساس کشور ما بیشترین آمار و ارقام قربانیان جنگ را به خود ثبت کرد و همچنان معلولیت مادر زادی هم علل و عوامل مشخصی چون عدم دسترسی به خدمات صحی و استفادهٔ غیر معقول ادویه مناسب می داشته باشد، که زمینه ساز همهٔ آنها جنگ و بدبختی در کشور ما بود.

سوال: با اینکه معلول هستید تحصیل تان در چه سطح می باشد؟

جواب: متأسفانه طی دو دهه زمینه تحصیل در افغانستان به قشر معلول مساعد نشد، خوشبختانه به اساس سعی و تلاش خویش توانستم تا مدرک تحصیلی خویش را از پوهنتون پکتیا در رشته کمپیوتر ساینس بدست بیاورم.

سوال: زمانیکه در اجتماع با اشخاص تندرست مقابل می شوید چه احساس دارید؟

جواب: امتحانات الهی است زمانیکه یک شخص عضو بدن خویش را از دست می دهد در مقابل به همان اندازه خداوند متعال برایش صبر و استقامت نصیب می کند، خودم از بابت معلولیت هیچگاه احساس ناراحتی نداشته ام و معلولیت را نقطه ضعف نه، بلکه آنرا انگیزهٔ برای تلاش و قوت می

بینم.

سوال: شما منحیث یک معلول وضعیت معلولین را چگونه می بینید؟

جواب: طی دو دهه اخیر در افغانستان قسمیکه لازم بود، توجهٔ خاصی در راستای بهبود زندگی و امرار معیشت افراد دارای معلولیت صورت نگرفته است، جز اینکه شمار زیاد هموطنان عزیز ما در همین دو دهه دچار معلولیت گردیدند و آمار و ارقام معلولین افزایش چشمگیری داشته است.

طوریکه همه می دانیم معلولین از آسیب پذیرترین قشر جامعه هستند از لحاظ اقتصادی، اجتماعی و روانی بیشتر در معرض خطر قرار می گیرند و خواست ما از وزارت امور شهدا و معلولین اینست تا به این قشر زمینه رفاه اقتصادی، اجتماعی و در راستای بهبود زندگی آنها تلاش بورزند.

سوال: برخورد مردم را با معلولین چگونه ارزیابی می کنید؟

جواب: خوشبختانه شهروندان شهر کابل رویه نیک و حسنه‌ی با معلولین داشته و معلولین خود را حمایت میکنند ما از اخلاق و صداقت مردم افغانستان به خصوص مردم کابل قلباً اظهار سپاس و قدردانی می کنیم. همچنان امیدوارم که شهروندان ما معلولین خود را بیشتر حمایت کنند و مورد تشویق و ترغیب قرار دهند.

سوال: از نظر شما استفاده واژه های همچون؛ معلول، ناتوان و بیچاره به این قشر چقدر آسیب روحی و روانی وارد می کند؟

جواب: بدون شک در برخی از مناطق کشور این فرهنگ ناپسند وجود دارد که برای معلولین از کلمات زشت و منفی گرا استفاده می شود که کاربرد همچون کلمات باعث ناراحتی و مایوسی هر معلول می شود.

باید بگویم معلولیت محدودیت و ناتوانی نیست بلکه در کشور معلولین زیادی وجود دارد که استعداد و توانایی شان به مراتب بیشتر از افراد صحتمند هستند. ما معلولینِ هم داریم که مدال ها و افتخارات بزرگی را در رقابت های مختلف با افراد تندرست به دست آورده است، بنأ معلولیت را محدودیت نشمارید.

سوال: پس با در نظرداشت پاسخ شما، استفادهٔ کدام کلمات و القاب به قشر معلولین مناسبتر است؟

جواب: در این شکی نیست وقتی شخصی یک عضو جسم خویش را از دست می دهد، طبعاً با مشکلات و ناراحتی های روبرو می شود اما بهتر این خواهد بود تا بجای کلمات و القاب نامناسب از الفاظ انگیزشی همچون توانمند، دلیر، قهرمان و شجاع استفاده نماییم تا سبب روحیه بخشی به آنان شوند.

سوال: ورزش ضامن سلامتی انسان است به خصوص به کسانی که معلول هستند برای معلولین کدام نوع ورزش را توصیه می کنید؟

جواب: بدون شک معلولین بیشتر از اشخاص تندرست نیازمند ورزش هستند پس به عنوان یک معلول توصیه ام به آنهای دچار معلولیت جسمی و روحی هستند باید در بخش های ورزش کنند که به وجود شان صدمه وارد نکنند.

سوال: مساعدت های نقدی ماهانه که از سوی وزارت امور شهدا و معلولین برای تان پرداخت می گردد، تا چه اندازه مشکلات اقتصادی تان را حل می تواند و همچنان با استقرار نظام امارت اسلامی

در کشور چه تغییراتی در راستای ارایه خدمات به معلولین بوجود آمده است؟

جواب: با روی کار آمدن امارت اسلامی تغییرات بی پیشینه‌ی در این وزارت در قسمت پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه برای یتیمان و افراد دارای معلولیت بوجود آمده است. به طور مثال در ادارۀ قبلی پرداخت حقوق نظر به رتبۀ نظامی بود، که متاسفانه آنعده کارمندان دولتی که رتبۀ نظامی بلندتری داشتند حقوق بیشتری را نیز دریافت می نمودند و حقوق معلولین عادی خیلی ناچیز بود، اما خوشبختانه با روی کار آمدن نظام اسلامی در کشور در راستای پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه توجۀ خاص صورت گرفته و تعادلی به میان آمد که بر اساس نوع معلولیت و اعضای معلول شخص، مساعدت ها پرداخت می گردد و حق به حقدار می رسد.

همچنان امارت اسلامی به معلولین مادرزاد و حوادث طبیعی که واقعا مستحق هستند نیز حقوق پرداخت میکند که در نظام قبلی این نوع معلولین از مساعدت های نقدی ماهانه محروم بودند.

سوال: خدماتی را که وزارت امور شهداء و معلولین به افراد دارای معلولیت ارایه می نماید آنرا چگونه ارزیابی می کنید؟

جواب: در مقایسۀ با ادارۀ قبلی، با حاکمیت نظام اسلامی در کشور تغییرات قابل ملاحظۀ در راستای ارایه خدمات به معلولین بوجود آمده است به گونۀ مثال آمریت های که در ولایات به این قشر نیازمند مصروف ارایه خدمات بودند به ریاست ها ارتقا نمود.

اجراآت و کارکردهای رهبری و مسؤلین وزارت امور شهدا و معلولین قابل قدر است که خوشبختانه در قسمت ثبت و راجستر ایتام، خانم های بیوه و معلولین و پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه سهولت های زیاد را ایجاد نموده اند، ضمن پرداخت مساعدت های نقدی ماهانه به ایتام، خانم های بیوه و معلولین به آنان در هماهنگی با مؤسسات و نهاد کمک رسان خوشبختانه هر روز شاهد توزیع مواد خوراکی و غیر خوراکی و همچنان پول نقد به آنان در مرکز و ولایات هستیم.

سوال: پیام تان به معلولین کشور چیست؟

همه می دانیم که کشور ما چندین دهه با مشکلات و چالش های جدی روبرو بود و بخاطر رهایی از این همه مشکلات باید دست به دست هم داده در آبادی و ترقی کشور سهیم شویم و پیام من به عنوان یک فرد معلول اینست که هیچگاه معلولیت خویش را محدودیت و مایوسی نشماریم و باور داشته باشیم که هر فرد با سعی و تلاش می تواند به آرزوی های خویش برسد.



# شعر او ادب

دکونډو بورو یتیمانوبه ډېرخیال ساتې
په دې مظلومو اوخوارانو به ډېر خیال ساتې

تاسره تیرې یې خوارۍ کړې دوۍ ډیرې ډیرې
د دغو ټولو هېوادوالو به ډېر خیال ساتې

دلته هرڅوک ډېرځوریدلی کړیدلی ګوره
دځورېدلو افغانانوبه ډېر خیال ساتې

ځای دې د ناستې نه وو دوۍ به ساتلې کو رکې
ستاسو د ټولوغم خوارانو به ډېرخیال ساتې

کړه د شهید په مور او پلار باندې همیش پوښتنه
تل په کورو د شهیدانو به ډېر خیال ساتې

چې درنه هیرنشي زاړه مجاهدین مشرانو
د مخکنیوطالبانوبه ډېر خیال ساتې

مطیع الله چې نصیحت وکړخفه پرې نشې
د لاربښو ونکو شاعرانو به ډېرخیال ساتې

له الله پاکﷻ څخه غوښتل په ژړا بیل کیف لري
اللهﷻ ته عجز او زارۍ د دعا بېل کیف لري

چې مخامخ دي دښمنان وي داللهﷻاو رسولﷺ
د پاک اسلام لاره کې ګرمه غزا بېل کیف لري

لیده کاته کړه هر مؤمن سره په ښو اخلاقو
د خاص ملګرو سره کلکه وفا بېل کیف لري

چی حریفان دي انتظار وي ناکامی په هیله
داسي حالت کي نو بیا لویه بریا بېل کیف لري

ډېر محبین یې جدایي کې سترګې سرې ګرځوي
«هیله من» پوه شوم چې وصال د آشنا بېل کیف لري



# SHAHEED

## Magazine

MMD.gov.af @MMD.gov.af 717